فلسفه

دځوانانو لپاره



محمد رضا قربانی

انتشارات محسن
Mohsin Publications

فلسفه دځوانانو لپاره

لیکوال: محمد رضا قرباني

ژباړونکی: محسن خپرندویه

بریښنالیک: mohsinpubs@gmail.com

وبلاګ: http://mohsinpubs.blogspot.com

دخپروني نیټه: د ۱۴۰۲ کال د زمري میاشت / د ۲۰۲۳ کال د اګست میاشت

فلسفه دځوانانو لپاره


محمدرضا قرباني

فهرست

لومړی برخه



وو نه وو، هغه وخت چې ځمکه نه وه، په آسمان کې په میلیاردونو ستوري ول؛ تر هغې چې په آسمان کې یوه غټه وریځ راښکاره شوه. د غازو، دوړو او غبار وریځ. ګلالیو ځوانانو لنډه دا چې، له دې غټې وریځ څخه ځمکه او اته نورې سیارې (شمسي نظام) رامنځته شوې.





د ځمکې پر مخ غرونه، درې، ځنګلونه، اوبه او ژوندي موجودات پیدا شول.

لمر او سپوږمۍ او ځمکه او سیارې له ټولو شیانو سره چې په هغو کې دي، ماده دي.

یوه شپه یو وږی سړی د سرک په غاړه په کنډو او کپره ځمکه پروت و. له ډېرې لوږې خوب نه ورتلو. همدا چې سترګې به یې پټې کړې، سره کړي چرګان به یې لیدل؛ او چې سترګې به یې پرانیستې نو سور کړی چرګ خو پرېږده چې وچه ډوډۍ به هم نه وه.

پوهېږئ ولې؟ ددې لپاره چې هغه سور کړي چرګ حقیقت نه درلوده او یواځې د هغه وږي په ذهن کې و او له ذهن نه بیرون نه و.

اوس چې په دې مسئله پوه شو، کولای شو چې ماده نوره هم وڅیړو.



مـاده یـو عینـي واقعیـت ده. یعنـي مونـږ هغه د پنځه ګونو حواسـو (لامسـه حـس، د لیدو حـس، د خونـد حـس، د اوریـدو حـس او بـوی حـس) پـه واسـطه درک کـولای شـو. لـه همـدې کبلـه هغـه زمونـږ لـه ذهـن نـه بهـر شـتون لـري او خـوب او سـوچ نده.


مخکـې لـه دې چـې هیـر مـې شـي یو شـی درتـه وایـم او هغـه دا چـې هیـڅ شـی د تـل لپاره نشـي کـولای خپلـه ظاهـري بڼه وسـاتي. آن که یـو شـی میلیاردونو کالـه ژوند وکـړي، بیا هـم بایـد خپلـې بڼـې تـه بدلون ورکـړي او په یو نوي شـي بدل شـي. دا هم بایـد ووایم چې یـو وخـت داسـې فکر ونکـړئ چې ماده پیل او پای لري. نه؛ هیڅکله داسـې نـده. ماده تل وه او تـل بـه وي. هیڅکلـه بـه لـه منځـه ولاړه نشـي. یعنـي په بې‌پایه زمـان کې ده او په بله وینـا، پیـل او پای نـه لري.

آیا ماده په مکان کې هم بې‌پایه ده؟

لـه ځوانانـو څخـه یـو تـن: ای بابـا! نور نو داسـې غټـې خبرې مـه کوه؛ ښـه دې خپل فکـر ونیسـه چـې داکتـاب د ځوانانـو لپـاره ده! مونـږ څـه پوهېـږو چـې پـه مـکان کـې هـم بې‌پایـه ده یعنـې څـه؟

ګرانـو ځوانانـو! ستاسـو خبره بیخـي سـمه ده. خـو هـر څرنګـه چـې کېـږي مونږ بایـد دا مسـئله روښـانه کړو. یو تش ډبې چې سـر یې بند وي په پام کې ونیسـئ؛ د ډبې دننه فضا چـې سـر یـې بنـد ده لـه کوچنیـو ذراتو ډک ده چې په سـترګو نه لیـدل کېږي. اوس تاسـو د ډبـې دننـه فضـا آسـمان او کوچنـي ذرات چې په هغه ډبـې کې دي (د هوا ذرات) سـتوري او سـیارې فکر وکړئ. دلته ویلی شـو چې آسـمان محدود ده یعني سـر او بیخ لري او هر هغـه څـه چې په دې آسـمان کـې دي هم محـدود دي.

خـو حقیقـي آسـمان، ددې بنـد ډبـې پـه څیـر نـه ده. واقعي آسـمان نه سـر لـري او نـه پای. یعنـې نامحـدود ده. پـه داسـې حـال کې ماده هم نامحـدوده ده. او وایو چې ماده سـربېره پر دې چـې پـه زمـان کـې بې‌پایـه ده پـه مکان کـې هم بې‌پایـه ده.



له پورته خبرو دا پایله اخلو چې ماده په زمان او مکان کې شتون لري. یعني هر هغه څه چې د طبیعت برخه ده، د فضا یوه برخه یې ډکه کړې او حجم لري. (موخه دا ده چې ماده په مکان کې شتون لري.) کله چې وایو ماده حجم لري یعنې اوږدوالی او پلنوالی او لوړوالی لري. نو پایله اخلو چې د مادې یو شرط داده چې په مکان کې شتون ولري یعنې اوږدوالی او پلنوالی او لوړوالی ولري او د فضا یوه برخه ونیسي.

مکان درې بعده لري؛ ددې لپاره چې ماده کولای شي په مکان کې درې لورو ته اوږدوالي او پلنوالي او لوړوالي ته حرکت وکړي.




ماده په زمان کې هم شتون لري. یعنې د وخت په تیریدو ورو ورو تکامل کوي. وخت یو بعد لري. یعنې حرکت یې یوائې یو لور ته ده. وخت مخ پر وړاندې حرکت کوي او هیڅکله وروسته نه راستنیږي.

اتمونه

اتم په یوناني ژبه یعني د ویشلو وړ نده.

د سرو زرو یوه ټوټه په پام کې ونیسئ. ژیړ یې خپله رنګ ده او ډیره نرمه او درنده وي. هوا په هغې اغیز نه کوي. یعني د هوا له امله سره زر د اوسپنې او نورو په څیر،



رنګ نه وهي. د سرو زرو ټوټه دوه ټوټې کړئ. هره ټوټه بیا هم ژیړه، ښایسته او نرمه او درنده ده او هوا پرې اغیز نه کوي. هر ټوټه بیا په زرګونو برخو وویشئ. آیا خپل رنګ او پوستوالی او دروندوالی له لاسه ورکوي؟ آیا هوا پرې اغیز کوي؟ نه. که له دې زرګونو ټوټو څخه بیا هم هر ټوټه په میلیونونو وړو ټوټو وویشو، داسې چې هره کوچنۍ ټوټه بیا هم د سرو زرو ټوټه وي او نور ونشو کولای هغه ټوټې په سترګو ووینو بیا هم خپلې فیزیکي (رنګ او نرموالی او دروندوالی) او کیمیاوي (د هوا اغیز نه کول) ځانګړتیاوې له لاسه نه ورکوي. دا کوچنۍ ټوټې د سرو زرو اتومونه دي.

له همدې کبله ويلی شو:

اتم د عنصر کوچنۍ ذره ده چې د هماغه عنصر ځانګړتياوې لري.

يوه پوښتنه: ځوانانو د الفبا توري څو دي؟ ځواب: ۳۲

ا ـ ب ـ پ ـ ت ـ ث ـ ج ـ چ ـ ح ـ خ ـ د ـ ذ ـ ...



ډير ښه، مونږ په دې ۳۲ تورو کولای شو په زرګونو کليمې وليکو. د بيلګې په توګه د ا توری د س له توري سره يوځای کوو چې اس ترينه جوړيږي. ا+س = اس

يا د ب توری له ا سره يوځای کوو چې کيږي بابا.

ب+ا+ب+ا = بابا

د اتمونو ډولونه د الفبا تورو په څير لږ دي خو د هغوي له يوځای کيدو څخه کولای شو په زرګونو ډوله مواد لاسته راوړو.

څو ډوله اتمونه لاندې ليکل شوي دي.

د هايدروجن اتم، د اکسيجن اتم، د سرو زرو اتم، د مس اتم، د اوسپنې اتم، د سرب اتم او نور.

د هايدروجن اتم يا د کسيجن اتم او يا نور هر يو د هايدروجن او يا اکسيجن او يا نورو له ميليونونو ذرو څخه يو ده. خو خپله هايدروجن له ميليونونو اتمونو څخه جوړ شوی چې هغې ته عنصر وايو.

نـو لـه همـدې امله د هايدروجـن يـو اتـم تـه يعنـی د هايدروجـن لـه ميليونـونـو ذرو څخه يـوې ذرې تـه، د هايدروجـن اتـم او خپلـه هايدروجـن چې د ميليونونو اتمونـو مرکب ده، د هايدروجـن عنصـر وايو.

د بيلګې پـه توګـه او ددې لپـاره چې تاسـو ښـه پوه شـئ لانـدې عناصر ليکل شـوي دي: د هايدروجـن عنصر، د اکسـيجن عنصر، د سـروزرو عنصـر او نور.

لـه څرنګـه مـو چې مخکې وويـل د دوه بيلابيلو عناصـر د اتمونـو له يوځـای کيدو څخه نـور مـواد لاسـته راځـي. هماغـه کار مـو چې د الفبـا لـه تورو سـره وکړ چې لـه هغو څخه مـو نـورې کلمې جـوړې کړې.

د بيلګې پـه ډول د هايدروجـن عنصـر پـه ميليونونـو ذرو (اتمونـو) ويشـو. د اکسـيجن عنصـر هـم پـه ميليونونو ذرو (اتمونو) ويشـو. اوس د هايدروجـن له ميليونونو ذره څخه دوه ذرې او د اکسـيجن لـه ميليونونـو ذرو څخـه لـه يـوې ذرې سـره يوځـای کـوو.

د هايدروجن دوه ذرې + د اکسيجن يوه ذره = اوبه

ا+و+ب+ه = اوبه

نو پوهيږو چې له ذرو څخه موخه هماغه اتم ده نو د ذرې پر ځای اتم ليکو:

۲اتم هايدروجن + ۱ اتم اکسيجن = اوبه

دوه ذرې هایدروجن یوه ذره اکسیجن اوبه 

کـه داسې وانګيـرو چې د اوبـو يو څاڅکی، سـل زره ميليونـه د هايدروجـن اتمونه لري، ويـلای شـئ چې څو ميليونه د اکسـيجن اتمونـه لري؟

۲ اتمه هایدروجن+ ۱ اتم اکسیجن ← 

ځواب: له هاغه ځایه چې د دوه اتمه هایدروجن او یو اتم اکسیجن له یوځای کیدو څخه اوبه لاسته راځي او په اوبو کې د هایدروجن د اتمونو شمیر د اکسیجن د اتمونو پرتله دوه برابره ده، له همدې کبله که د اوبو په یو څاڅکي کې سل زره میلیونه د هایدروجن اتمونه وي، پنځوس زره میلیونه د اکسیجن اتمونه شتون لري.

د بیلابیلو اتمونو له یوځای کیدو څخه بیلابیل مواد لاسته راوړی شو؛ دغه مواد د میلیونونو مالیکولونو له یوځای کیدو څخه جوړیږي. د بیلګې په ډول د هایدورجن دوه اتمونو او اکسیجن یو اتم له یوځای کیدو څخه یو مالیکول اوبه لاسته راځي.

۲اتم هایدروجن + ۱ اتم اکسیجن = ۱ مالیکول اوبه

یوه پوښتنه: د هایدروجن ۴ اتمونو او اکسیجن ۲ اتمونو له یوځای کیدو څخه څو مالیکوله اوبه لاسته راځي؟ ځواب: څرنګه چې هر مالیکول اوبه له دوه اتمه هایدروجن



او يو اتم اکسيجن سره برابرې دي، له همدې کبله د هايدروجن ۴ اتمونو او اکسيجن دوه اتمونو څخه، دوه ماليکوله اوبه لاسته راځي.

د اتم جوړښت: اتم له الکترون او هستې څخه جوړ شوی ده.


الکترون: الکترونونه سپکې ذرې دي چې په ټاکلي مدارونو کې خپل شاوخوا او هم د هستې شاوخوا څرخيږي. د هستې چاپيره د الکترون سرعت ۳۰۰۰ کيلومتره په ثانيه کې ده.

د اتم هسته: د اتم هسته په پروتون او نيوترون ويشل کيږي. په اتم کې د پروتونونو او الکترونونو شمير برابر ده.



دوه تنه په پام کې ونيسئ چې وزن يې برابر وي او د يوې مسئلې پر سره يې تل خپلو منځو کې شخړه وي. دا دوه تنه د يو بل ضد او دښمنان دي؛ خو زور يې برابر ده، د يو بل بريد خنثی کوي. يعنې د يو بل ځواک له منځه وړي.

څرنګه چې دا دوه تنه د يو بل ضد دي او ځواک يې برابر ده، پرلپسې پر يو بل اغيز کوي او پرلپسې د يو بل ځواک خنثی کوي. (له منځه وړي.). پرهمدې بنسټ هيڅ يو نشي کولای پر بل زور شي نو له همدې امله بايد تل د شخړې او دعوا په حال کې وي.



اوس داسې وانګیرئ چې له دوه تنو څخه د یو نوم الکترون او د بل نوم پروتون ده. الکترون منفي بار لري او پروتون مثبت بار. مثبت او منفي د یو بل ضد دي، پر همدې بنسټ له یو بل سره په جګړه کې دي؛ خو له هاغه ځایه چې د الکترونونو او پروتونونو شمیر مساوي ده، یو بل خنثی کوي. نو پروتونونه او الکترونونه تل پر یو بل اغیز کوي.

پایله اخلو چې د اتم دننني تضاد (د الکترونونو او پروتونونو مبارزه چې زور یې برابر ده) د اتمونو د حرکت سبب ګرځي.

اتمونه حرکت کوي: کله چې په پخلنځي کې کبان پخوئ، د کبانو اتمونه په بیړه حرکت کوي او آن ډیرې یې له کبانو رابهر کیږي او فضا ترینه ډکیږي او پدې توګه د کبانو بوي په پخلنځي او کور کې خپریږي.



د پلټونکو اتمونو کیسه

غرمه چې شوه، د ودانۍ کارګر له شلیدلو او په رنګ ککړو جامو، سترې ستومانه په یو تور

او دودوهلې لوښـي کې چـای ایشـوه. پیالـه او نعلبکـی یـې چـې پـه پاکـټ کې ایښـي ول راوباسـتل او پـه چـای ځښـکلو بوخـت شـو. ښیښـه‌ای پیالـه هـم د نورو شـیانو پـه څیر له میلیونونـو بیلابیلـو اتمونـو څخه چې یو بل پسې حرکـت کاوه، جوړه شـوی وه او په دې توګـه یـې خپـل ژونـد تیـروه. یـو اتـم لـه خپـل ځـان سـره وویـل:

«کلونـه کېـږي چـې پـه همدې پیالـه کې حرکت کـوم او لـه دې تکراري ژوند څخه سـتړی شـوی یـم. غـواړم لـه دې بندخونې څخـه ځـان خـلاص کـړم او یـوې بلې نـړۍ کې پېښـه کیـږدم.»

ګرانـو ځوانانـو لنـډه داچې، پلټونکي اتـم خپـل نظـر لـه ټولـو اتمونـو سـره شـریک کـړ؛ او هغـوي تـه یـې وړاندیـز وکـړ چـې دغـه سـتړي ژونـد تـه د پـای ټکـی کېـږدي او لاړ شـي وګـوري چـې نـور ځایونـه څـه ډول دي. زوړ اتـم چـې لـه نـورو ټـول یـې ډېره تجربـه لرله، وویـل: «مونـږ بایـد یـو بـل کلـک ونیسـو او هیـڅ کلـه لـه یو بـل څخه جـلا نشـو. زمونږ د یووالـي لـه املـه دا پیالـه روغـه ده او نور ترینه ګټـه اخلي. مونږ د یو جامد جسـم اتمونه یو او د اوبلنـو او غازاتـو لـه اتمونـو سـره توپیـر لـرو. د اوبـو اتمونـه چې اوبلـن دي، د یـو بل پـه څنـګ کې دي او په آسـانۍ سـره خوریـږي را خوریـږي. که څو میلیونه اتمونـه له اوبو څخـه کـم شـي، هیـڅ توپیر نـه کوي.






د غازاتو اتمونو حالت هم ډیر ښـه ده. یـو بل سره زیات واټن لـري او کولای شي په هـوای کې هم لوبې وکړي. که چیرې پـه میلیونونـو اتمونـه وغـواړي لـه خپلـو ملګرو جلا شـي، هیـڅ خبره نـده. خـو زمونـږ حالـت لـه نـورو سـره توپیـر لـري. مونږ لکه څرنګه مې چې وویل د یو جامد جسم اتمونه یو او د جامد جسـمونو اتمونه د اوبلنو جسـمونو پرتله یو بـل پـورې کلـک نښـتي دي او کـه چیرې سـل دانې هـم وغـواړي له مونږ څخه جلا شـي، د پیالې د ماتیـدو امـکان شـته.» پـه ورته وخـت کې د ودانـۍ کارګر د څوم ځـل لپاره پیاله له چـای څخـه ډک کړه.

پلټونکي اتم وپوښتل: «زما په وتلو به دا پیاله ماته شي؟»

زوړ اتم وویل: «نه؛ د یو یا دوه اتمونو وتل په جامد جسم ډیر اغیز نه کوي.»

پلټونکـی اتـم ددې خبـرې پـه اوریـدو ډیر زیات خوښ شـو او د زوړ اتم له لارښـوونو یې مننه وکـړه او له پیالې بهر شـو.

کارګر چای په نعلبکي کې واچوه او د څو ځله پو کولو وروسـته یې وڅښـکه. پیاله چې تشـه شـوه هغه یې په نعلبکي کې کېښـوده او خپله د ودانۍ د چت تر سـیوري لاندې ویده شـو.





اوس دا واوره چې څو نور اتمونه هم د پلټونکي اتم تر اغيز لاندې راغلل او وويل: «مونږ هم غواړو له دې ځايه بهر شو او لاړشو وګورو چې نور ځايونه څه ډول دي.»

زوړ اتم هر څومره ننواتې وکړې چې خپله پريکړه بدله کړئ. خو ونشوه. ګرانو ځوانانو لنډه دا چې نږدې دوه سوه اتمونو يو بل ته لاس ورکړ او همدا چې له خپل ځای څخه بهر شول، پياله ماته شوه.

کارګر چې نوي يې غوښتل سوچ کې ډوب شي، د پيالې ماتيدو په آواز سره يې سترګې پرانيستې او وی ليدل چې پياله ماته شوی ده. شاوخوا يې وکتل چې چا تيره راغورځولي، وی ليدل چې څه نشته، پياله په خپله ماته شوی ده. حيران پاتی شو او له ځان سره يې وويل: «هرو مرو بلا وه او برکت يې نه وه.»

خو ګلونو ځوانانو! لکه څرنګه مې چې مخکې وويل پياله د بيلابيلو اتمونو (ماليکولونو) په وتلو سره ماته شوه او ماتيدل يې بې‌علته نه و.



حرکت

ماده یوائې د حرکت په حال کې کولای شي چې شتون ولري. اتمونه په پام کې ونیسئ؛ تل د حرکت په حال کې دي. پر همدې بنسټ چې د نړۍ ټول شیان له اتمونو جوړ شوي، د حرکت په حال کې دي. د مادې حرکت هم د مادي په څیر تل وي او هیڅکله به له منځه ولاړ نشي. ماده او حرکت نه پیل لري او نه پای. خو یو شی ده هغه دا چې حرکتونه یو بل سره توپیر لري.



د حرکت ډولونه

میکانیکي حرکت:

ښځه چې اوبدل کوي،

پیشو چې د تار له پنډوسکي سره لوبې کوي،

کارګر چې په کارخونه کې کار کوي،

الوتکه چې په هوا کې حرکت کوي،

سړی چې ګام وهي او ماشوم چې منډې وهي،

ښځه چې بازار ته ځي،



دا ټول میکانیکي حرکتونه دي. میکانیکي حرکتونه کولای شو په خپلو سترګو ووینو.



یوه پوښتنه: له یو ځای څخه بل ځای ته د یو جسم حرکت، څه ډول حرکت دی؟
ځواب: میکانیکي حرکت.

فیزیکي حرکت:


یوه کیسه: لمر د کلي په کورونو وړانګې خپرې کړې. غرمه نږدې وه چې ښاغلی ښوونکی په ګاډي کې کلي ته راغی. ماشومان د هغه په راتګ خوښ ول. خلک د هغه چاپېره راتاو شول او هغه ته یې ښه راغلاست ویلې. ښوونکي له دې مهربانۍ او هرکلي خوند اخیسته.

د کلي ملک هغه ته ست وکړ او دواړه د کور په لور روان شول.

غرمنۍ یې چې وخوړه، ملک وویل: «تا پسې ډیر خفه شوی وم او ماشومان هم همداسې.»



ښوونکی په خندا شو او مننه یې وکړه. د ملک ښځې په یو پتنوس کې چای راوړ او ملک ته یې ورکړ او خپله د دسترخوان په راټولولو بوخته شوه. په همدې وخت کې ښاغلي ښوونکي ته وویل: «په دې موده کې چې تاسو نه وئ دلته ډیره بده پیښه وشوه.»




ښوونکی اندیښمن شو او وی پوښتل: «څه پیښه؟»

ملک وویل: «هیڅ؛ د هدایت غوا مار وچیچله. او د هدایت زړه د همدې پیښې له امله ودریده او ومړ. ښځې یې سکینې هم خپل ځان دومره په سپیږو ووهلو چې اوس یې سترګې کار نه کوي.»


ښوونکی خواشینی شو. د ملک ښځې سوړ اسویلی وکړ او له دسترخوان سره بهر شوه. ملک ښوونکي ته وویل: «چای وڅښه چې یخ نشي!» او خپله یې پیاله اوچته کړه او چای یې څښکه. ښوونکي هم خپل چای وڅښکه. وروسته ملک ادامه ورکړه: «هو، لنډه دا چې د هدایت له مرګه څه موده نه وه تیره چې احمد رضا خبر راوړ چې سیفي د حسین ځوی د ځنکدن په حال کې ده. ښاغلی جلالي هم دلته و. راولاړ شو او په بیړه د حسین کور ته ولاړو. بیچاره سیفي ډیر درد زغملو. تر اوسه یې خبرې زما په غوږ کې دي چې ویلې یوازې غوښتل مې یو ځل بیا ښاغلی ښوونکی ووینم او هغو ښو کتابونو ته چې په ټولګي کې لوستل غوږ ونیسم. نور نو څه ووایم؟ ښاغلي جلالي خپلې لاړې د سیفي په تندي پورې کړې او وویل: که خدای وغواړي ژوندی به پاتې شي. بس خدای ونه غوښتل چې ژوندی پاتې شي.»

د ښوونکي په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، ملک وویل:

«خدای دې د ښاغلي جلالي ژوند اوږد کړي. ډیر پاک سړی ده. پوهیږې؟ کله چې بوټان اوباسي، خپله سره یوځای کیږي.»



ښوونکي هیڅ ونه ویل.
ښوونکي د ټولګي ځوانانو ته وویل:



«ځوانانو! سيفي کولای شو چې ژوندی پاتې شي. که ستاسو کلي ډاکټر درلودلی او يا داسې وسيله وای چې سيفي يې لـه کلي څخه ښار تـه وړی وای، ډير زيات امکان يې درلوده چې سيفي ژوندی پاتی شي.»

احمد رضا وويل: «ښاغلی ښوونکيه! که وسيله هم وای، حسين به په کومو پيسو سيفي ډاکټر تـه بيولـی وای؟»

ښوونکي وويل: «ته ريښتيا وايې. که پيسې او ډاکټر او وسيله وای نو د سيفي درملنه به د جلالـي د لاړو پـر ځای په دوا او ډاکټر شـوی وای.»

عباس وويل: «ښاغلی ښوونکيه! پلار مې وايـي د جلالـي لاړې تـر ټولـو درملو غوره دي. هغه معجزه لـري او بوتـان يـي د ښـو په مخ کې سره يوځـای کيږي.»

ښوونکي وويـل: «نو ولی يې لاړو ونشو کولای سيفي ښه کړي؟» عباس وويل: «ددې لپاره چې خدای ونه غوښتل.»


ښوونکي وخندل او وويل: «کله چې ستاسو په کلي کې نه ډاکټر وي، نه درمل او نه وسيله نـو ستا پلاره بلـه چاره لـري پرته لـه دې چې جلالي تـه پناه يوسي؟» ښوونکي خپل ستونی پاک کړ او وويل: «ګرانو ځوانانو له دې شيانو ورهاخوا د جلالي د بوټانو



یوځای کېدل یوه علمي مسئله ده. یو حرکت ده. ښاغلی جلالي په دې پوهېږي او ستاسو غولولو لپاره له هغې څخه ګټه اخلي. خو تاسو ساده خلک په دې نه پوهېږئ او غولېږئ.» ځوانانو بنګ بنګ پیل کړ او ښوونکي ادامه ورکړه: «هو، د جلالي د بوټانو یوځای کېدل یو فیزیکي حرکت ده.»

ماشومان هک حیران ول چې فیزیکي حرکت یعني څه. دا لومړی ځل و چې هغوي دا خبره اوریده. ښوونکي وویل: «د آهنربا په اړه ستاسو په درسي کتابونو کې یو څه لیکل شوي دي. هرو مرو هغوي چې پروسږکال یې دا برخه لوستې په یاد یې ده. هماغه چې ومو ویل انځور یې د آس د نعل په څیر ده. ښه ماشومانو هرو مرو مو میخ یا ستن لیدلې ده. که میخ یا ستن یا هر څه چې له اوسپنې جوړ شوی وي که د آهنربا په مخ کې کېږدئ نو سمدستي آهنربا هغه د ځان خواته راکاږي. دغه حرکت ته فیزیکي حرکت وایي. اوس تاسو خپله فکر وکړئ ولې کله چې ښاغلی جلالي خپل بوټان اوباسي، هغه را اخلي او د خپلې چپن لاندې ږدي؟ ښکاره خبره ده چې په یو بوټ کې آهنربا او په بل کې اوسپنه ده.»

ماشومانو په خورا مینه او غور سره د ښوونکي خبرې اوریدې. ښاغلي ښوونکي وویل:



«اوس چې خبره د فیزیکي حرکت شوه، نو ښه ده چې په دې اړه نور مالومات هم ورکړم. ماشومانو تر اوسه مو فکر کړی چې ولې د ورځې له خوا، کله چې لمر د ښایسته غرونو له لوري راوځي، هوا ګرمیږي؟

د لمر حرکت یو فیزیکي حرکت ده.



او يا په ژمي کې کله چې د صندلۍ لاندې کينئ، څه شی د صندلۍ د ګرميدو سبب ګرځي؟»

يو ماشوم ځواب ورکړ: «د سکرو د حرارت حرکت.»

ښاغلی ښوونکی: «آفرين! د سکرو د حرارت حرکت هم يو فيزيکي حرکت ده. کولای شو په دې اړه زيات مثالونه ورکړو.»

کيمياوي حرکت:

د اتمونو په برخه کې مو وويل کې چې د اتمونو ډولونه هم د الفبا په څير لږ دي خو د هغوي له يوځای کيدو څخه په زرګونو مواد لاسته راځي. د بيلګې په توګه د يو اتم اکسيجن او دو اتمه هايدروجن له يوځای کيدو څخه اوبه لاسته راځي.

اوبه = ۲ اتمه هايدروجن + ۱ اتم اکسيجن


د اتمونو له يوځای کيدو څخه، ماليکولونه لاسته راځي چې څو ډوله اتمونه لري. لکه د اوبو د ماليکول په څير چې دوه ډوله اتمونه لري: د اکسيجن اتم او هايدروجن اتم. اوس که د اوبو اتمونو سره جلا کړو يعني وويشو، دوه ډوله اتمونه لاسته راځي. د هايدروجن اتم او اکسيجن اتم.

له پورته مطلب څخه په ګټې اخیستلو لیکو: د اتمونو له یوځای کیدو څخه چې په پایله کې مالیکولونه لاس ته راځي؛ او د اتمونو تجزیه، یعنې د اتمونو جلا کول، کیمیاوي حرکت ده.

بیولوژیکي حرکت:

دا حرکت ژوندیو موجوداتو پورې اړه لري. ټول ژوندي موجودات ددې لپاره چې ژوندي پاتې شي خواړه خوري او د هغوي بدن اړین مواد جذبوي او هغه په هغو شیانو بدلوي چې ورته اړتیا لري. یعنې په وینه او سلول او نورو بدلوي. دغه عمل ته «آسیمیلاسیون» وایي. نو د اړینو موادو د جذب لپاره د خوړو خوړلو ته آسیمیلاسیون او بیرته لرې کولو یعنې د خوړو تفالې ته «دزآسیمیلاسیون» وایي.


پر همدې بنسټ د خوړو خوړلو ته «آسیمیلاسیون» او بیرته چاپیریال ته تفاله ورکول «دزآسیمیلاسیون» یو حرکت ده او دې حرکت ته بیولوژیکي حرکت وایي.






ټولنيز حرکت:








ټولنيز حرکت د حرکتونو يو ډير ښه ډول ده. دا حرکت د انسان له پيدايښت څخه رامنځته شو او په هغې کې د لومړي کمون او مريتوب او فيوډاليزم او پانګوالۍ ټولنې تيرې شوې او سوسياليزم يعنې د کمونيزم لومړني پړاو ته رسيږي.






د ټولنيز حرکت بل ډول، توليد ده چې انسان يې د ښه ژوند کولو لپاره کوي. او ورځ تر بلې د توليد اوزار يې وده کوي.



د حرکت سرچینه

ځوانانو آیا پوهېږئ چې مثبت او منفي د یو بل ضد دي؟ په اتمونو کې چې الکترونونه منفي او پروتونونه مثبت بار لري، پر یو بل اغیز کوي. په اتم کې دوه شیان متضاد دي. دوه شیان چې د یو بل ضد دي؛ او د اتم همدا دننني تضاد ده چې د هغه د حرکت سبب ګرځي.






آیا پوهېږئ آسیمیلاسیون (د خوړو جذب) او دزآسیمیلاسیون (د تفالې لرې کول) متضاد یعنې د یو بل ضد دي؟ هر ژوندی موجود یوائې د خوړو په خوړلو او جذب (آسیمیلاسیون) او د تفالې په لرې کولو (دزآسیمیلاسیون) سره کولای شي حرکت وکړي او ژوندی پاتې شي. نو د ژوندیو موجوداتو ژوند او حرکت هم د دوه متضادو یعنې ضد شیانو یعنې آسیمیلاسیون او دزآسیمیلاسیون په وسیله ترسره کېږي. په ټوله کې که هر شی وپلټو نو ګورو چې دوه متضاد شیان د هغه د حرکت سبب ګرځي. پر همدې بنسټ دا پایله اخلو: د نړۍ د ټولو شیانو او پدیدو حرکت، د هغو د دنني تضاد پایله ده چې په هغو کې شتون لري. او له هاغه ځایه چې په نړۍ کې داسې شی نشته چې حرکت ونه لري، نو ټول شیان او پدیدې په خپل ځان کې تضاد لري.



مفهوم

کله چې مونږ وایو د ټټو غوږونه اوږد دي، موخه مو له ټولو ټټوانو څخه ده.



آیا کولای شو چې ووایو یواځې د سپینو ټټوانو غوږونه اوږده دي؟ او یا ویلای شو چې یواځې او یواځې د نر ټټوانو غوږونه اوږده دي؟ بیا هم نه.

او یا کله چې وایو سپی وفادار حیوان ده، موخه مو داده چې وفا د ټولو سپو ځانګړنه ده. پر همدې بنسټ کله چې وایو سپی، اړینه نه ده چې څه رنګ لري، تور یا سپین، قهوه‌ای یا ژیړ ده. او یا هم کار ورسره نلرو چې نر ده او که ښځه. هغه څه سره چې مونږ کار لرو د سپو د وفا ځانګړنه ده.




نو سپی یو مفهوم ده او د سپي په مفهوم کې وفا شتون لري. پر همدې بنسټ مفهوم د شي بنسټیزه ځانګړتیا ده او له رنګ او بوی او بڼې او قد او نر او ښځې سره کار نه لري.

آزانګه (انعکاس)

انسان پر خپل چاپريال اغيز کوي. چاپيرل هم پر انسان اغيز کوي. د نړۍ ټول شيان که ژوندي دي او که مړه، پر يو بل اغيز کوي او اغيز اخلي.

کله چې يو شی يا پديده پر بل شي يا پديدې اغيز کوي، ددې کار پايلې ته آزانګه (انعکاس) وايي.



د لمر وړانګې پر اوبو اغيز کوي چې اوبه په بخار بدليږي.

په بې ځانه شيانو کې آزانګه (انعکاس) ډير ساده ده.

اوس ددې لپاره چې په بې ځانه شيانو کې د آزانګې (انعکاس) په اړه ښه پوه شو دا لنډه کيسه اورو!

د تقي او حسن شخړه شوه. حسن وتښتيده او تقي ورپسې شو او د يوې کړکۍ خواته يې راګير کړ. د دواړو ساه لنډه لنډه کيده. تقي خپل لاس موټی کړی چې حسن پر مخ ووهي؛ حسن ځان لری کړ او د تقي سوک د کړکۍ په ښيښه ولګيده. د تقي لاس درد وکړ او په ژړا شو.



دلته ښيښه يو بې ځانه ماده ده



او د يو بهرني عامل (د تقي سوک) څخه اغيزمنه شوه او خپله يې د بهرني عامل (د تقي سوک) په ټاکلو يا منځته راوړلو کې هيڅ لاس نه درلوده.

پر همدې بنسټ آزانګه (انعکاس) په بې ځانه شيانو کې د بڼې بدلون سبب ګرځي چې يو بهرنی عامل په هغو کې بدلون راولي. که آسمان وريځ وي، تاسو له چترۍ سره بهر راوځئ. يا که چترۍ نه وي نو پلاستيکي يا نايلوني کڅوړه له ځان سره بهر وړئ. کله چې باراون وربېږي تاسو له چترۍ يا کڅوړې څخه ګټه اخلئ. تاسو پوهېږئ چې باران ستاسو سر لمدوي او تاسو به زکام شئ. پر همدې بنسټ تاسو د باران په مقابل کې له چترۍ يا خولۍ يا کڅوړې څخه کار اخلئ.

باران يو بهرنۍ پديده يا عامل ده. تاسو هغه زيانمن ومونده، کوښښ کوئ له هر ډول وسيلې څخه چې په واک کې لرئ ګټه واخلئ او خپل ژوند ته ادامه ورکړئ.

باران (پديده) پر انسان اغيز کوي. انسان هم د هغو وسايلو څخه چې په واک کې لري له هغې سره جوړجاړی کوي يعنې ځان له چاپريال سره سموي. د آزانګې تعريف ته په کتو سره، د باران اغيز پر انسان، (انعکاس) هغه عمل ده چې انسان يې ترسره کوي.




پېژندنه (شناخت)

کله چې لـه ذهن څخه بهر شـیان، پر ذهـن اغیز کوي، ددې اغیز پایلې تـه چې پېژندنه ده او انسـان یې ترلاسـه کوي، آزانګه (انعکاس) وایې. پر همدې بنسـټ شـناخت، د بهرنیو شـیانو انعکاس په ذهن کې ده.

یـوه ښیښـه پـه پـام کې ونیسـئ. هغه جسـمونه چې له ښېښـې څخه بهـر دي، پـه هغې کې ښـکاري. حـواس هـم د هغو جسـمونو په څیـر په ذهن کې انځوریږي. پر همدې بنسـټ شـیان د انسـان پـه ذهـن کې منعکس کیـږي، له همدې امله د انسـان په ذهن کـې د بهرنیو شـیانو انعـکاس یـا منعکس کیدل شـناخت بلل کیږي.

خـو بایـد پـام وکـړو چې د جسـمونو انعـکاس په مغز کې د جسـمونو انعکاس ښېښـې ته ورتـه نـده؛ ځکـه مغـز ډیره پیچلې ماده ده او ښیښـه یوه سـاده مـاده ده.

شناخت دوه پړاوه لري:



حسي شناخت:



پنځه‌ګوني حواس (لامسې حس، د ليدو حس، د اوريدو حس، د ذايقې حس، د بوی حس) مونږ سره مرسته کوي چې په لومړي ګام کې شيان وپيژنو.

کله چې مونږ يو شی ګورو، لومړی هغه لمس کوو، مزه يې څکو، بوی کوو يې، رنګ يې په پام کې نيسو او د هغې ځانګړتياوي د خپلو حواسو په مرسته ګورو.

منطقي شناخت:

منطقي شناخت د حسي شناخت په مرسته پرمخ وړی شو. په لومړي پړاو کې د يو شي په رنګ، بوی، مزې، کلکوالي او نرموالي پوه شو. خو ومو نشو کړای چې ووايو دا شی له څه شي جوړ شوی او د هغه مواد څه دي. او هغه شی په پوره توګه تر آزمايښت لاندې نيسو او پر هغه غور او فکر کوو او له هغه څخه يو عملي او منطقي شناخت ترلاسه کوو چې پر فکر او آزمايښت ولاړ وي. ومو ويل چې حسی شناخت له يو شي څخه په لومړي ځل کتلو تر لاسه کيږي چې د هغه پر ظاهري ځانګړتياو پوه شو. وروسته پر هغه شي فکر او غور کوو.

دوه پوښتنې: که یو شی په لومړي ګام کې و نه ګورو (حسي شناخت)، کولای شو دویم پړاو (منطقي شناخت) پر مخ بوځو؟

آیا د حسي شناخت او منطقي شناخت موخه دا نده چې د یو بل په مرسته مونږ ته یو شی را وپېژني؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب داده: نه که مونږ یو شی و نه وینو نشو کولای د هغه په اړه فکر وکړو.

د دویمې پوښتنې ځواب: هو، حسي شناخت او منطقي شناخت دواړه غواړي چې مونږ ته یو شی ځرګند او روښانه کړي. پر همدې بنسټ د حسي شناخت په نشتوالي کې، منطقي شناخت هم شتون نه لري.

په فلسفه کې د حقیقت مفهوم:

ګرانو ځوانانو، ښخوا داسې فکر کېده چې لمر یوه ګرده سره پاڼه ده؛ او یا ستوري هغه میخونه دي چې پر آسمان ټکوهل شوي دي. آیا ستاسو په آند د هغوي فکر سم و؟ ښکاره ده چې نه، ځکه هغوي له نړۍ څخه شناخت نه درلوده. دا دلیل نشی کیدا چې انسان هاغه وخت فکر کاوه چې ستوري د میخونو په څیر پر آسمان کې ټکوهل شوی او یا لمر د ځمکې شاوخوا څرخیږي، د هغوي فکر دې سم وي او هغه څه یې چې ویلي حقیقت و. حقیقت د پېښو (واقعیتونو) سم انعکاس ده. د بیلګې په توګه کله چې وایو ځمکه په یوه شپه او ورځ کې یو ځل خپل چاپیره څرخي. یو سم واقعیت ده. له همدې امله، د ځمکې څرخیدل پر خپل شاوخوا یو حقیقت ده. آیا کولای شو ټول حقیقتونه په یوځل کشف کړو؟ نه، ځکه ماده (طبیعت) په زمان او مکان کې بې پایه ده. نن یو شی کشف کېږي چې له مخې یې کولای شو ډیر مسایل حل کړو او مونږ

دا پایله اخلو چې هغه شی حقیت ده، خو سبا یو نوی شی راځي او هغه پخوانی رد کوي. دلته ویلی شو هغه څه چې پرون د منلو وړ و، یو نسبي حقیقت ده. حقیقت ده ځکه د هغې په مرستو مو ځینې ستونزې حل کړې. او نسبي ده، ځکه بل حقیقت راغی او هغه یې رد کړ. نو اوس پایله اخلو حقیقت نسبي ده. یعنې مطلق (تل‌پاتې) نده. هیره دې نه وي ځینې حقیقتونه مطلق دي. مثلا د لمر شاوخوا د ځمکې څرخیدل، یو حقیقت ده، یا د ځمکې څرخیدل پر خپل شاوخوا یو حقیقت ده. له هغه ځایه چې ځمکه په خپل او د لمر شاوخوا تل څرخیږي، نو پر همدې بنسټ د ځمکې څرخیدل په خپل او د لمر په شاوخوا یو مطلق حقیقت ده.

تضادونه

لکه څرنګه چې وویل شو، ټول شیان او پدیدې تضاد لري او که دا تضاد نه وي نو حرکت هم شتون نه لري.





دننني او بهرني تضادونه

که د کور په انګړ کې د رومي دانه وکرئ، څه شی سبب کیږي چې رومي ونیسي؟

ځواب: دننني تضادونه. پر همدې بنسټ دننني تضادونه د رومي کیدو ځانګړتیا ده.

دننني تضادونه ټاکونکي دي، یعنې شیانو او پدیدو ته بدلون ورکوي. د بیلګې په توګه که د رومي دانه د رومي کیدو ځانګړتیا (دننني تضادونه) ونه لري، په رومي نه بدلیږي. نو له دننني تضادونو پرته وده (تکامل) ناشونی ده.

کله چې د رومي دانه کرئ، باید هغې ته سره (خواړه) او اوبه ورکړئ. په ورته وخت کې د لمر حرارت هم باید هغې ته ورسیږي.



سره (خواړه)، اوبه، د لمر حرارت بهرني تضادونه دي چې هغو ته بهرني عوامل وایي. که بهرني تضادونه

(اوبه، سره، د لمر حرارت) نه وي، د رومي دانه به رومی شي؟ ښکاره ده چې نه، پر همدې بنسټ بهرني تضادونه هم زيات ارزښت لري. اوس که تاسو د رومي دانې ته اوبه ورکړئ خو د اړتيا په کچه اوبه ورنکړئ، او په همدې توګه سره او د لمر حرارت هم په ټاکلی کچه ورونه رسېږي، روميان له ټاکلي وخت څخه وروسته پخېږي. پايله اخلو: بهرني تضادونه حرکت او تکامل بيړنی يا ټکنی کوي. (ځيني وخت يې ودروي هم. مثلا لکه وړاندې مو چې وويل، که سره، اوبه، د لمر حرارت د رومي دانې ته ونه رسېږي د رومي دانه وده او تکامل نه کوي او روميان نه راشنه کېږي.)

نه پخلاکيدونکي تضادونه:

يو ليوه او يو پسه په پام کې ونيسئ. ليوه د پسه غوښې په خوړلو مړېږي. پر همدې بنسټ د ليوه او پسه تضاد، نه پخلاکيدونکی ده. ځکه يواځې د يوې خوا په له منځه تللو سره دا تضاد حل کېږي.

دا سمه ده چې نه پخلاکيدونکي تضادونه په ژونديو موجوداتو کې شتون لري؛ خو بايد د ژونديو موجوداتو نه پخلاکيدونکي تضادونه له ټولنيزو نه پخلاکيدونکو تضادو سره، يو شان و نه ګڼو.



په واقعیت کې نه پخلاکیدونکي تضادونه، د طبقو تر منځ اختلافونه دي چې یو زبیښاګګر ده او بل زبیښاک کیدونکي. (لکه د مريوان او مري طبقې تر منځ تضاد، د فیوډال او بزګر طبقې تر منځ تضاد او د پانګه‌وال او کارګر طبقې تر منځ تضاد.)

نه پخلاکیدونکي تضادونه هغه وخت حل کیږي چې هغه نظام چې په هغه کې نه پخلاکیدونکي تضادونه شتون لري، له منځه ولاړ شي. مثلا پانګه‌والۍ نظام کې د پانګه‌وال او کارګر تر منځ تضاد، نه پخلاکیدونکی ده؛ دا تضاد د پانګوالۍ نظام په له منځه تلو او د کمونیزم لومړي پړاو (سوسیالیزم) پر واکمنیدو سره، حل کیږي. خو پانګوالۍ نظام څرنګه له منځه ځي؟ کارګران د پانګوالۍ نظام له منځه‌وړلو لپاره پانګوال له منځه وړي. پر همدې بنسټ د نه پخلاکیدونکو تضادونو د حل لپاره، ټولنیز انقلاب ته اړتیا ده.

پخلاکیدونکي تضادونه:

پخلاکیدونکي تضادونه، هغه تضادونه دي چې د حل لپاره یې ټولنیز انقلاب ته اړتیا نشته. مثلا په پانګوالۍ نظام کې، د کارګر او پانګوال ترمنځ تضاد نه‌پخلاکیدونکی ده خو د کارګر او بزګر تر منځ تضاد پخلاکیدونکی ده. په پانګوالۍ نظام کې د کارګر او بزګر تر منځ تضاد داده چې بزګر کولای شي یو اندازه اوزار ولري لکه، یوه، غوا، اس او آن یوه ټوټه ځمکه او نور. خو کارګر هیڅ ډول اوزار نه لري.

د هغوي تر منځ تضاد پخلاکیدونکی ده؛ ددې لپاره چې په پانګوالۍ نظام کې دواړه طبقې د زیارکښو او زبیښاک کیدونکو طبقو له ډلې دي. په دې صورت کې بزګر او کارګر دواړه غواړي چې د پانګوالۍ نظام له منځه ولاړ شي.




اصلـــي او فـرعي تضــادونه:

لـه پورتـه مطلب څخه داسې پايله اخلو چې ټول شيان او پديدې، بيلابيـل تضادونـه لــري. (پـــخلاکيـــدونـــکي تضادونـه، نـه پخلاکيدونکي تضادونـه، دننني تضادونـه او بهرنـي تضادونـه).

خـو هغـه څـه چې اړيـن دي، هغـه دادي چې ددې ټولـو تضادونـو پـه منځ کې، اصلي تضادونـه کـوم دي او فرعـي تضادونـه کـوم دي. اصلـي تضـادونـه ټاکونکي او د ودې او تکامل سبب ګرځي. لکـه پـه پانګوالی ټولنه کې، د کارګـر او پانګـوال ترمنـځ تضـاد، نه‌پخلاکيدونکي تضـاد ده؛ او د کارګـر او بزګـر تر منځ تضاد پخلاکيدونکی ده. د کارګر او پانګـوال ترمنـځ تضـاد اصلـي تضـاد او د کارګـر او بزګـر ترمنـځ تضاد فرعي تضـاد ده.

متافيزيک



ګلاليـو ځوانانـو بايـد درتـه ووايـم، ښـاغلی «ارسـطو» يـو کتـاب ليکـي «فيزيـک» نـوم پـري ږدي. يـو بل کتاب ليکي چې ټول د روح پـه اړه ده. هـر څه فکـر کوي چې ددې کتـاب نوم څه کيږي، فکـر يـې کار نـه کـوي. پـه پـای کې چـرت خرابيږي او وايـي:

«اوس مې چې ستا لپاره نوم پيدا نکړ، پرېږدم چې همداسې بې‌نومه پاتې شي؛ حيف د هغه نوم چې پر تا يې کېږدم!» لنډه دا، کله چې ښاغلی ارسطو څو کاله وروسته مړ کېږي، زده‌کوونکي يې خوشالېږي او وايي: «څومره ښه، ټول کتابونه مونږ ته راپاتې شول!» وروسته يې زده‌کونکوو د ارسطو په کور بريد وکړ تر څو کتابونه يې لوټ کړي.



هغوي همداسې ګرځېدل، د کتابونو په منځ کې يو کتاب پيدا کړ چې نوم يې «فيزيک» وه او پرې ليکل شوي و، ليکونکی ارسطو. لږ نور وګرځېدل، بل کتاب يې پيدا کړ چې پر مخ يې ليکل شوي و ليکونکی «ارسطو» خو هيڅ نوم يې نه درلوده. يو زده‌کوونکي وويل: «د ارسطو مخکينی کتاب مو چې وموند نوم يې فيزيک و خو دا کتاب هم چې د ارسطو ده او له فيزيک نه مو وروسته وموند، هيڅ نوم نه لري. که تاسو راسره همغږي ياستئ ددې کتاب نوم به کېږدو د «ارسطو يادګار». څنګه ده؟»

يو بل زده‌کوونکي وويل: «نه، له هاغه ځايه چې دا کتاب له فيزيک څخه وروسته وموندل شو، د هغه نوم ږدو «له فيزيک وروسته». ټول دې نوم سره همغږي شول او لنډه دا چې د هغه کتاب نوم يې «له فيزيک وروسته» يا په يوناني ژبه «متافيزيک» کېښودو ده.»

ګرانو ځوانانو متافيزيک يوه يوناني کلمه ده چې له فيزيک څخه وروسته مانا لري. متا (يعنې وروسته) او فيزيک يعنې د مادي طبعيت پېژندل. نو د متافيزيک ساده مانا، د




طبیعت له پېژندنې وروسته ده؛ خو فلسفي مانا يې يعنې د هغو شيانو په اړه مطالعه چې مادي نه دي. يعنې د هغو شيانو مطالعه چې له مادې څخه ندي جوړ شوي.

اوس ګورو چې متافيزيک څه وايي:

«ښاغليه! په دې خبرو زما سر نه خلاصيږي. تر هغو چې په خپلو دوه سترګو يې ونه وينم چې دا تيږه له ځايه ټکان وخوري، حرکت يې نه منم. دا تيږه کلکه پر ځمکه نښتې ده؛ نو ښکاره ده چې نشي کولای له دې ځايه بل ځای ته لاړه شي.

اوس نو ووايه چې حرکت يې مونږ نشو ليدلی. ډېره خندونکې ده! که حرکت کوي، نو څنګه يې حرکت نشو ليدلی؟ ولې کله چې يوه مرغۍ په هوا کې الوزي، مونږ د هغې حرکت وينو؟ او يا کله چې يوه پيشو منډې وهي حرکت يې ښکاره ده؟ او همداسې د نورو ډېرو شيانو حرکت وينو. خو ددې تيږې حرکت چې په خپله ګونګۍ ژبه وايي چې زه کلکه پر ځمکه نښتې يم، نه وينو. دا ښاغلی وايي چې په خپل منځ کې حرکت کوي، دا خبرې نو ايسته واچوه!»





ښـه ګرانو ځوانانو، هرو مرو پام مو شـوی چې متافیزیک هیـڅ ډول حرکت نـه مني او که مني يې هـم هغه بايـد پـه خپلـو سترګو ووينـي. يعنـي لـه يـو ځـاى ښخه بل ځـاى ته تګ د هغـوي په آند حرکـت ده.

د حسن کيسه او دا هماغه خر ده قضيه:

حسـن له يو سـوداګر څخه چې د متافيزيک پلوي و يعنې متافيزيسـن و يو خر واخيسـت. يـو کال وروسـته، سـوداګر لـه حسـن سـره مـخ شـو چې لـه خره سـره کـور خواتـه روان و. سـوداګر وويل: «دا هماغـه خر ده؟»


حسن وويل: «دا هماغه خر ده چې له تا مې واخيست خو اوس هغه لومړنی خر نده.»



سوداګر لږ مخکې شو او خره ته يې ښه په ځير وکتل او وويل: «والله هماغه خر ده.»

حسن وويل: «نه ښاغليه.»

سوداګر وويل: «که د متافيزيک نظره منې خو دا هماغه پروسږنی خر ده.»




حسن وويل: «زه نه پوهيږم چې متافيزيک څه شی ده. خو تر هغه ځايه مې چې عقل کار کوي، دا خر هماغه اولنی خر نشی کيدای.»

سوداګر وويل: «لږ نور هم ځير شه! د متافيزيک له نظره دا هماغه پروسږني دوه اوږده غوږونه دي، چې سږکال يې هم لري؛ هماغه دوه غټې سترګې دي چې پروسږکال يې لرلې، سږکال يې هم لري؛ رنګ يې پروسږکال سپين وه، سږکال هم سپين ده. نو څه شي بدلون کړی ده؟ بدلون خو داده چې مثلا ستا خر په غوا يا اس بدل شي. نور نو څنګه درته ووايم؟ بدلون هغه څه ته وايي چې بڼه يې بدله شوی وي.»

حسن وويل: «لاړ شه هغه متافيزيکانو ته دې ووايه، په دې خر مې چې پروسږکال هر څومره پنډ اچوه ريغنده به روان و، خو سږکال چې لږ پنډ پرې واچوم پوزې ته مې رارسوي. لنډه دا چې دا هماغه پروسږنی خر نده.»

سوداګر وويل: «ښاغليه، پنډ له خره سره څه اړيکه لري؟ پنډ يو شی ده او خر بل شی ده. په نړۍ کې هيڅ شی نشته چې يو بل سره اړيکه ولري. مثلا يو کس بيوزله ده، وايي دا د بډايه ګناه ده. اوس يو نه پيدا کيږي چې هغه ته ووايي چې بيوزله له بډايه سره څه اړيکه لري؟ تر هغې چې نړۍ وه او ده، هم بيوزله شته او هم بډايه. په



راتلونکي کې به همداسې وي.



لنډه دا چې ټول شیان تل پاتې دي. ځیني وايي چې یوه ورځ به بیوزله د بډایانو پر وړاندې جنګ وکړي او بریالي کیږي او ټول به یوشان شي. دا هسې اپلتې دي. وایوره خو باور پرې مه کوه! که بیوزله او بډایه یو بل سره اړیکه هم ولري، د یو بل ضد دي. څرنګه شونی ده چې دو ضد شیان په یو وخت کې شتون ولري؟ نو له هاغه ځایه چې بیوزله او بډایه په یو وخت کې شتون لري، نو د یو بل ضد ندي، نو بیوزله به هیڅکله د بډایانو پر وړاندې پاڅون ونه کړي.»

له پورته کیسې څلور پایلې اخلو:

۱) د متافیزیک له نظره: د نړۍ شیان او پدیدې له یو بل سره هیڅ اړیکه نه لري.

۲) د متافیزیک له نظره: هیڅ شی د حرکت او بدلون په حال کې نه دي او ټول شیان هماغه پخواني شیان دي.



۳) د نړۍ ټول شيان او پديدې چې څرنګه وې هماغسې دي او تل هماغسې پاتې کېږي. مثلا: بيوزله به تل بيوزله وي او بډايه به تل بډايه وي او په نړۍ کې تل بيوزله او بډايه ول او وي به.

۴) د متافيزيک له نظره: دوه مخالف شيان نشي کولای دواړه په يو وخت کې شتون ولري.

متافيزيک د طبيعت په اړه څه وايي؟


متافيزيک د طبيعت پېژندو لپاره مونږ ته دوه لارې راښايي.

لومړۍ لار: ټول شيان ولاړ (ساکن) دي او هيڅ حرکت نه لري. هغوي چې وايي ټول شيان د حرکت په حال کې دي ماغزه يې خراب دي او يا ښه به دا وي چې ووايم ددوي پنځه ګوني حواس ناسم دي.

دويمه لار: ښاغليه! ولې ددې لپاره چې ومې ويل طبيعت بې‌حرکته ده خپه شوې؟ اوس چې داسې ده لږ نرمښت کوم. يعني منم چې طبيعت حرکت لري؛ خو دا حرکت يواځې له يو ځاى څخه بل ځاى ته حرکت ده (مکان بدلون). په واقيعت کې مونږ ميکانيکي حرکت منو. مثلا منو چې ځمکه د لمر او خپل شاوخوا تاويږي. خو ښکاره درته وايم چې دا څلور ډوله حرکت (فيزيکى، کيمياوي، بيولوژيکي، ټولنيز) نه منو. هو که تاسو دا ومنئ چې د پانګوالۍ نظام وروستى نظام ده، تل به وي او هيڅ وخت له منځه نه ځي، مونږ هم په ټولنه کې ځينې بدلونونه منو. مثلا منو چې پاچايي په جمهوري بدله کړو. يا بدلون او تړلتيا (وابستګي) په خپلواکۍ ومنو، خو لکه څرنګه مو چې وويل په دې شرط چې پانګوالۍ ته زيان ونه رسوي. ځکه دا نظام بايد تل وي او تل به وي هم. هغوي ته چې وايي له پانګوالۍ وروسته د کمونيزم وار ده، هم بايد وويل شي: «د ټولنې د حرکت په اړه زمونږ نظر داده چې، ټولنه له پانګوالۍ وروسته

لومړي کمون ته ځي. يعنې بيرته خپل لومړي ځای ته ځي او خپل حرکت له پيل څخه شروع کوي. په واقيعت کې ټولنيز حرکت دايروي ده.»

ښه ګرانو ځوانانو د ټولنې په اړه هم د متافيزيک په نظر پوه شوئ او وپوهيدئ چې د متافيزيک فلسفه څومره غيرمنطقي او له ملنډو ډکه ده. خو مونږ دې فلسفې پورې نه خاندو او هغه يواځې د څېړنې لپاره لولو. پريږدئ چې ددې فلسفې د پلويانو زړه په دې خوشاله وي چې پانګوالي تل پاتې ده! يوه ورځ به ټولنه هغوي ته دا وښايي چې حق له چا سره ده او پانګوالو او ټولو هغه کسانو ته چې د خلکو د پوهې مخه يې ډب کړې وه، به سزا ورکړل شي.



آګنوستیسیزم

د یو آیدیالیست او یو ماتریالیست تر منځ شخړه شوې وه. ایډیالیست ویلې: «لمر او نور ټول شیان حقیقت نه لري..»

ماتریالیست ویلې: «نه دا ټول شیان حقیقت لري او مونږ کولای شو هغوي وپېژنو.» ناڅاپه په همدې وخت کې یو بل کس له دې ځایه تېرېده او د شخړې په اړه یې وپوښتل او قضیې نه یې ځان خبر کړ، وویل: «نه ایډیالیست سم وایي، نه تاسو ښاغلی ماتریالیست.

له کومه ځایه چې ټول شیان زمونږ له ذهن څخه بهر شتون لري خو نشو کولای ثرنګه چې هغوي دي وی پېژنو مثلا پخوا فکر کیده ستوري میخونه دي چې په آسمان کې ټکوهل شوي دي خو نن ښکاره شوه چې د هغوي فکر ناسم و. نن هم تاسو فکر کوئ چې ستوري هم د لمر په څیر د اور ټوټې دي، خو دا شوني ده چې سبا دا خبره ناسمه وي. په واقیعت کې مونږ نشو کولای په حقیقت پوه شو څکه شیان زمونږ له ذهن څخه بهر یواځې شتون لري.»

ماتریالیست وپوښتل: «تاسو ایډیالیست نه یاست او ماتریالیستي خبرې کوئ نو څه ډول ماتریالیزم ردوئ؟» دریم ګړي وویل: «زه نه ایډیالیست یم، نه ماتریالیست، زه آګنوستیسیست یم او زما باور داده چې هم ایډیالیزم ناسم ده او هم ماتریالیزم.» ماتریالیست وپوښتل: «اوس ستاسو په آند لمر څه شی ده؟» دریم ګړي ځواب ورکړ: «نه پوهېږم، مالوم نده.»

ماتریالیست وویل: «نو تاسو د نه‌پوهېږم مکتب پیرو یاست؛ خو په واقیعت کې تاسو ماتریالیست یاستې خو شرمېږئ چې ښکاره او رغنده خپلې خبرې وکړئ. یا دا چې له دې ښاغلي ایډیالیست څخه ویرېږئ؟»



خو ګرانو ځوانانو ریښتیا ووایم، آګنوستیسیزم هماغه ایډیالیزم ده چې له نوي نقاب سره رامخ ته شوی او ځان داسې ښکاره کوي چې خلک فکر وکړي هغه یو ماتریالیست ده خو شرمېږي چې خپلې خبرې وکړي.

روح:

د روح پـه اړه ډېـر زيـات تعريفونـه شـته خو لنډه به يې درته ووايم چې د علم له نظره روح بيخي شـتون نه لري.

په فلسفه کې دوه مهمې برخې:
- ماترياليزم
- ايډياليزم

ايډياليزم

دوه کسانو ډوډۍ خوړه. يو تن وويل:

«دا ټـول شـيان چې مونـږ يـې خپـل شـاوخوا وينـو، دا ټول خيـالات دي. پـه واقيعت کې هيـڅ شـی شـتون نه لـري او ټول شـيان انځورونه او نقاشـيانې دي چې زمونـږ په ذهن کې شـتون لـري. نـو ټـول شـيان زمونږ په ذهن کې دي او لـه ذهن څخه بهر په جـلا ډول هيڅ شی نشته.»

دويم کس وويل:

«کـه هيـڅ شـی شـتون نه لـري، دا خـواړه چې مونږ يې خورو هم بايد شـتون ونـه لري. نو که دا خواړه شـتون نه لري څرنګه سـتا خيټه مړه وي؟ نو ټول شـيان زمونږ له ذهن څخه بهـر پـه جلا ډول شـتون لري خو يو پياوړي روح هغـوي رامنځته کړي دي.»

اوس ځوانانو زه پوښتنه کوم، تاسو ځواب راکړئ!

لومړنی کس څه ډول ايډياليست وه؟ ځواب: ذهني ايډياليست.

آفرین بیخي سم ځواب. ښه اوس ووایئ چې دویم کس څنګه؟ ځواب: دویم عیني ایډیالیست وه.

ذهني ایډیالیزم: وایو، ټول هغه شیان چې مونږ یې لمس کوو او یا وینو او اورو، انځورونه دي چې زمونږ په ذهن کې نقاشي شوي دي. ټول شیان زمونږ په ذهن کې شتون لري او له ذهن څخه بهر نشي کولای شتون ولري.

عیني ایډیالیزم: دا مني چې ماده شتون لري خو وایي چې یو پیاوړي روح هغه پیدا کړې ده.

ماتریالیزم

هر څه د علم له نظره وایي او د علم له ودې او پرمختګ سره، مخ پر وړاندې ځي. په داسې حال کې چې ایډیالیزم د علم په پرمختګ سره پرلپسې ضربې خوري. ماتریالیزم، ماده له ذهن څخه بهر او خپلواکه ګڼي؛ او باور لري چې کولای شو ماده وپېژنو. د ماتریالیزم له نظره مادي نړۍ هیڅ فکر او روح نده پیدا کړې ځکه نړۍ ماده ده او مخکې له دې چې د مادې له اوږد تکامل څخه رامنځته شي، شتون یې درلوده. هغوی ته چې وایي نړۍ روح او پیاوړي فکر پیدا کړې، باید وویل شي: «آیا تاسو اول فکر کاوه او وروسته مو مغز پیدا شو، یا مو اول مغز درلوده او وروسته مو فکر وکړ؟» ښکاره ده تر هغې چې انسان مغز ونه لري نشي کولای فکر وکړي. اوس آیا مغز ماده نده؟ ولې نه، مغز د انسان یوه برخه ده او په مکان او زمان کې اوسېږي، ماده ده. پر همدې بنسټ فکر د مادې اوږد تکامل ده. او لومړی مادې شتون درلوده او وروسته فکر، نو فکر نشي کولای ماده چې له هغه څخه یې مخکې شتون درلوده، رامنځته کړي.

ماتریالیزم او ایډیالیزم

آسمان وریځ و او ډېر تیز باران ورېده، د علومو ښوونکي یو زده‌کوونکي ته غږ وکړ او له هغه یې وپوښتل: «ووایه ولې باران ورېږي؟»


زده‌کوونکي وویل: «ځکه باران بزګرانو لپاره ښه ده او که باران ونه ورېږي نو وچکالي راځي؛ له همدې کبله خدای عادل او مهربانه ده، وریځو ته امر کوي چې باران وورېږي».




ښوونکي زده‌کوونکي ته سر وخوځاوه او ورته یې وویل چې کېنه او بیا یې بل زده‌کوونکي ته غږ وکړ او له هغه یې وپوښتل:

«کولای شي ووایې چې باران ولې ورېږي؟»

زده‌کوونکي ځواب ورکړ: «په اوړي کې کله چې ګرم لمر د سیندونو او سمندرونو پر اوبو لګېږي، د سیندونو او سمندرونو یو اندازه اوبه په بخار بدلېږي؛ دغه بخارونه چې سپک دي د آسمان په لور ځي او وریځ ورځخه جوړېږي. دا وریځې په یوځای نه پاتې کېږي او شمال هغه یوخوا او بل خوا وړي. په پای کې کله چې په ژمي کې هوا یخه



شي، بياځلې هغوي د (بخار) له حالت څخه په مايع (اوبو) بدلېږي او د باران په بڼه ځمکې ته راښکته کېږي. خو که چېرې هلته پاس هوا ډېره يخه وي، د باران پر ځای، واوره او ږلۍ وريږي. ددې لپاره چې موضوع نوره هم روښانه شي دلته آزمايښت ترسره کوو. لږ اوبو ته حرارت ورکوو ترڅو په بخار بدلې شي، اوس که دا بخار د کومې وسېلې په واسطه وکولای شو يخ کړو، بخار په اوبو بدلېږي.»



ښوونکي زده‌کوونکي ته اشاره وکړه چې کيني او بيا يې هغه لومړي زده‌کوونکي ته غږ وکړ:

«پلار دې څه کار کوي؟»

زده‌کوونکي ځواب ورکړ: «کارګر.»

ښوونکي وپوښتل: «په دې شپېتو افغانيو ستاسو ژوند ښه پر مخ ځي؟»

زده‌کوونکي ځواب ورکړ: «نه، له دې پېسو هم باید د کور کرایه ورکړو او هم خپل نس موړ کړو. زمونږ ژوند ډېر خراب ده.»

ښوونکي وپوښتل: «ولې مو ژوند باید دومره خراب وي، په داسې حال کې چې پلار دې دومره زيار باسي؟ د هغه د لاس‌زيار چيرته ځي؟»

زده‌کوونکي ځواب ورکړ: «دا د خدای کار ده چې د يو شمير خلکو ژوند خراب ده او د يو شمير خلکو ښه ده. هر څه چې خدا وغواړي، هماغه کيږي.»

ښوونکي وويل: «نه. داسې نه ده.»

زده‌کوونکي وويل: «ښه، کيدای شي زما پلار بې‌پروا وي او خپلې پيسې نشي سپمولي.»

ښوونکي وويل: «نه دا هم سمه نده.»

د ښوونکي په اشاره زده‌کوونکی بيرته په خپل ځای کيناست. ښوونکي دويم زده‌کوونکي ته غږ وکړ او هماغه پوښتنې يې ورڅخه وکړې. دويم زده‌کوونکي ځواب ورکړ: «تر هغې چې د توليد وسايل يعنې سترې صنعتي کارخونې د پانګوالو په لاس کې دي، د نړۍ ټول کارګران اړ دي چې د خپل نس مړولو لپاره بايد د خپلو متو ځواک په کمه بيه وپلوري. پانګوال هغوي په بې‌رحمۍ سره زبيښي، يعنې که کارګران د ورځې اته ساعته کار وکړي، پانګوال هغوي ته يواځې د دوه ساعتو باړه ورکوي او د کارګرانو شپږ ساعته کار غلا کوي. همدا لامل ده چې ټول کارګران بيوزله او تش‌لاسي دي؛ ځکه پانګوال هغوي ته دومره پېسې ورکوي چې ډوډۍ وخوري او ونه مري تر څو بيا د خپلو متو ځواک وپلوري.»

ښوونکي وپوښتل: «آیا د کارګرانو ژغورلو لپاره کومه لاره شته؟»

زده کوونکي ځـواب ورکـړ: «د کارګرانو او نړۍ ټولو زیارکښـانو د ژغورلو یوائینۍ لاره د پانګوالۍ سیستم له منځه وړل دي.»

ښوونکي وویل: «ډیر ښه؛ مهرباني وکړه کینه.»

وروسـته یـې زده کونکـو تـه وویـل: «لکـه څرنګـه مـو چـې ولیـدل مـا څو پوښـتني لـه دوه زده کونکـو وپوښـتلې او هـر یـو پـه خپلـه طریقـه ځـواب راکـړ: ګرانـو ځوانانـو! د هـرې پوښـتنې ځـواب پـه دوه ډولـو ورکـولای شـو.

پوښتنې ته ځواب د ایډیالیستي له لید څخه.

پوښتنې ته ځواب د ماتریالیستي له لید څخه.




نو هرې پوښتنې ته کولای شو هم ایډیالیستي ځواب ورکړو او هم ماتریالیستي ځواب، هغه څه چې روښانه دي هغه داده چې پوښتونو ته ایډیالیستي ځواب په هیڅ وجه علمی اړخ نه لري له همدې کبله د علم له پرمختګ سره ایډیالیزم وژونکې ضربه خوري. خو ماتریالیزم د علم پر ستنو ولاړ ده او ورځ تر بلې وده او تکامل کوي. د لومړي زده کوونکي ځواب دې پوښتنو ته چې ولې باران ورېږي یا پلار دې چې یو کارګر ده ژوند یې ولې خراب ده، ایډیالیستي او غیرعلمي و. خو دویم زده کوونکي دغو پوښتنو ته د ماتریالیستي او علمي لید څخه ځواب ورکړ.

میکانیکي ماتریالیزم

یوه ورځ یو هلک له خپل پلار څخه وپوښتل: «پلار جانه! میکانیکي ماتریالیزم یعنې څه؟» پلار سوچ وکړ چې د ځوی ځواب څرنګه ورکړي چې ښه پرې پوه شي. له لږ ځنډ وروسته یې ځوی ته وویل: «لاړ شه او د وړوکي ورور کوکي موټر دې راوړه چې ځواب دې درکړم.»

هلک په بیړه لاړ او د ورور کوکي موټر یې راوړ او پلار ته یې ورکړ. پلار وویل: «ځوی جانه! له مارکس څخه وړاندې ماتریالیزم میکانیکي و. خو له مارکس څخه وروسته، دیالکتیک ماتریالیزم د میکانیکي ماتریالیزم ځای ونیوه.» وروسته پلار کوکي موټر ته وکتل او د هغه غاښ‌لرونکي څرخونه یې خپل ځوی ته وښودل او وویل: «ښه پام وکړه! زه دغه موټر کوک کوم. کله چې موټر د کوک کولو په حال کې وي، فنر ځان راټولوي او غاښ‌لرونکي څرخونه څرخېږي او ددې لامل ګرځي چې د موټر څرخونه وڅرخي. کله چې موټر کوک شو، حرکت کوي. لامل یې داده چې فنر خلاصېږي، غاښ‌لرونکي څرخونه څرخېږي او د څرخونو حرکت د موټر ټایرونو ته لېږدول کېږي. ښه زه اوس څو پوښتنې کوم، ته ځواب راکړه. ووایه، آیا دا موټر چا جوړ کړی ده؟»



څوی یې ځواب ورکړ: «ښکاره ده چې هو.»

پلار وویل: «په کوم دلیل؟»

څوی ځواب ورکړ: «په دې دلیل چې ددې موټر ټولې پرزې یو بل سره جوړې دي. موټر ته یې کوک ایښی چې هغه کوک شي؛ غاښلرونکي څرخونه یې ورکړي چې د موټر ټایرونه په حرکت راولي او داسې نور. له دې څرګندېږي چې ددې موټر جوړونکی پوهیده چې ددې موټر پرزې (کوک، فنر، غاښلرونکي څرخونه او نور) څرنګه ځای

پـر ځـای کـړي چې له کـوک کولو وروسـته حرکـت وکړي.»

پـلار وویـل: «پـر همدې بنسـټ کـه دا موټر کوک نکـړو، حرکت بـه ونه کـړي. اوس ووایه کـه دا کوکـي موټـر د کلونـو لپـاره همدلته کیـږدو، آیا په هغـه کې به بدلون راشـي؟»

ځوی ځواب ورکړ: «د بدلون لپاره باید په هغه کې لاسوهنه وکړو.»

پلار وپوښتل: «آیا که موټر خراب شي، کولای شو هغه جوړ کړو.»

ځـوی ځـواب ورکـړ: «هـو، ځـوک چې پرې پوه شـي، کـولای شـي د هغې پـرزې وګوري او د خرابیـدو علـت یې پیـدا کړي.»

پـلار وویـل: «د ریښـتیاو موټـر پـه اړه هـم همداسـې ده. یـو د ریښـتیاو موټـر پـه پـام کې ونیسـه؛ د هغې ټولې پرزې یوبل سـره جـوړې دي. له انجن نه نیولې تر رادیاتور او شـمع او ټایرونـه او څرخونـه او ډینمـو او بطـرۍ او ګیـر او نـور او نـور. کـه پـه دغـه موټـر کـې د کلونو لپاره لاس ونه وهل شـي، همداسې ګل او مړ پاتې کیږي. خو که څوک د هغې تر شـا کینـي او د سـیوچ لـه لاري هغـه چلان کـړي، موټر چلانیږي. که چلان نشـي، ښـکاره ده چې خرابیږي او هغه باید مستري ته یوړل شـي. مسـتري د هغې ټولې پـرزې ګوري او د خرابـۍ علـت یـې پیدا کوي. ټول موټرونه همداسې دي؛ له کوکـي موټر څخه نیولې تر ریښـتیاو موټـر پـورې او اورګاډي او الوتکـه او سـترې کارخونـې او نور او نور. ښـه، اوس نـو پورتـه مطلـب تـه په کتو ګـورو میکانیکـي یا ماشـیني ماتریالیـزم یعنې څـه. میکانیک یـا ماشـیني ماتریالیـزم فکـر کـوي چې نړۍ لـه ذرو او شـیانو څخه جوړه شـوې چې هیڅ وخـت بدلـون نـه کـوي. هغـوي فکر کـوي چې نړۍ یو ماشـین ده، یعنـې پرزې لـري او دا پـرزې پـه خپلـو کـې جـوړې دي او هـره پرزه ځانګـړې دنده لـري. د میکانیکـي ماتریالیزم له لید څخه انسـان هم یو ماشـین ده، ځمکه ماشـین ده او په ټوله کې شمسـي منظومه او ټـول کاینـات ماشـین دي. دا لید چې انسـان ماشـین ده او یـا نړۍ ماشـین ده، ایډیالیزم ته

يې کلکه ضربه ورکړه، ځکه ماشين روح نه لري؛ او کله چې انسان ماشين وي، نو هغه هم روح نه لري. له دې ټولو سربيره، د ميکانيکي يا ماشيني ماترياليزم نيمګړتياوې ډيرې زياتې وې. له هغې ډلې کله يې چې ويل نړۍ ماشين ده، يعنې د کوکي موټر په څير پرزې لري (کوک، فنر....) او په خپلو منځو کې جوړې دي. نو پر همدې بنسټ هغه بايد چا جوړ کړې وي. ښه که نړۍ ماشين وي، نو بايد يو کس هغه د کوک يا سيوچ په واسطه په حرکت راولي؛ په دې توګه ميکانيکي ماترياليزم حرکت له مادې څخه جلا کوه؛ سربيره پر دې کله چې ماشين حرکت کوي نو يواځې د مکان بدلون ده يعنې له يو ځای څخه بل ځای ته تګ. نو کله چې نړۍ ماشين وي، حرکت يې هم ميکانيکي ده؛ يعنې له يو ځای څخه بل ځای تګ.

په ټوله کې له پورته ويل شويو مطالبو پايله اخلو:

د ميکانيکي ماترياليزم له ليد څخه:



نړۍ له ذرو او شيانو څخه جوړه شوې چې هيڅ وخت بدلون نه کوي (نړۍ ماشين ده).

ميکانيکي حرکت تر ټولو لوړ حرکت ده.

نړۍ بدلون نه کوي مګر دا چې څوک (بهرنی عامل) هغې ته بدلون ورکړي.

ټول شيان پرته له دې چې يو بل سره اړيکه ولري، په جلا ډول خپل کارونه ترسره کوي.



ديالکتيک ماترياليزم

ديالکتيـک ماترياليـزم د ميکانيکي ماترياليـزم برعکس چې ويل به يې: نـړۍ لـه ذرو او شـيانو جوړه شـوې چې هيـڅ بدلـون نـه کـوي، وايـي نـړۍ د شـيانو او پديـدو يـوه ټولکه ده چې يـو بـل سـره اړيکه لـري او تـل د بدلـون پـه حـال کـې ده او هيـڅ کلـه دا فکـر نشـو کـولای چې نـړۍ دې ولاړه يـا آرمتيـا ولـري. شـيان او پديـدې پرلپسـې بڼه بدلـوي او له يو حـال څخـه بـل حـال تـه بدلېږي او پـه دې توګـه تکامـل کـوي.

ديالکتيـک ماترياليـزم د ميکانيکي ماترياليـزم برعکـس چې ميکانيکي حرکت تـر ټولو حرکتونـو لـوړ بولـي، وايـي چې ميکانيکي حرکت د نـړۍ د حرکتونو يو سـاده حرکت ده.




ديالکتيـک ماترياليـزم د ميکانيکي ماترياليـزم برعکس چې بـاور لـري نـړۍ بدلـون نـه کـوي مګـر دا چې يـو بهرنـی عامـل هغې تـه بدلـون ورکـړي، وايـي: ټول شـيان او پديـدې پـه خپـل ځـان کې تضادونـه لـري او تضادونو مبـارزه د شـيانو د حرکـت او بدلـون سـبب ګرځـي. پـر همدې بنسـټ د شـيانو او پديدو د بدلون او تکامل علت دننـه پـه هغـوي کې ده او هيـڅ کلـه بهرنـی عامـل نشـي کـولای بدلـون او تکامـل رامنځتـه کـړي. لـه بـل پلـوه که

ووایو د شیانو بدلون او حرکت بهرني عامل ته اړتیا لري، په واقیعت کې وایو چې په پیل کې شیانو او پدیدو حرکت نه درلوده او وروسته یو کس یا بهرني عامل هغه په حرکت راوستل. په دې توګه یعنې ماده او حرکت له یو بل څخه جلا دي. خو دیالکتیک ماتریالیزم وایي په هیڅ وجه نشو کولای چې حرکت له مادې څخه جلا کړو یا ماده له حرکت څخه جلا کړو.

دیالکتیک ماتریالیزم د میکانیکي ماتریالیزم خلاف چې ویل یې ټول شیان پرته له دې چې یو بل سره اړیکه ولري هر یو خپل کار ترسره کوي وایي: ټول شیان له یو بل سره اړیکه لري؛ مثلا د اوبو له حرارت څخه بخار رامنځته کېږي، نو بخار له اوبو سره اړیکه لري؛ څکه که اوبه نه وای، نو د اوبو بخار به هم نه وای او نور. دویم نه یواځې دا چې شیان هر یو جلا خپل کار نه کوي، بلکه ټول شیان پر یو بل اغیز کوي.

مثلا کله چې اوسپنه زنګ وهي، دا ثابتېږي چې د هوا اکسیجن پر هغې اغیز کړی او داسې نور.



پورته مطلب یواځې د دیالکتیک او میکانیکي ماتریالیزم تر منځ یوه پرتله وه. د دیالکتیک ماتریالیزم په اړه مخکې یو جلا کتاب په ساده ژبه لیکل شوی چې له تاسو څخه هیله کوم ددې برخې لوستلو لپاره هلته ورشئ.

دویمه برخه

په دې برخه کې د هغو فیلسوفانو افکار او عقایدو ته لنډه کتنه کوو چې په پخوا زمانو کې ژوند کاوه. نو ښکاره ده چې په یوه برخه او څو پاڼو کې نشو کولای د ټولو فیلسوفانو افکار او عقاید تشریح کړو؛ ځکه د هر فیلسوف د عقیدې بیانولو لپاره باید یو کتاب ولیکل شي، نه څو کرښې. دا برخه یوازې ددې لپاره ده چې تاسو له دې فیلسوفانو سره لنډه پېژندګلوي پیدا کړئ او لږ تر لږه په دې وپوهېږئ چې پلانکی فیلسوف ایډیالیست وه که ماتریالیست. په هر حال هیله‌من یم هغه څه مې چې له دې برخې تمه لرله پایلې ته ورسیږم.


فیثاغورث

و نه و، عیسی مسیح لا نړۍ ته نه و راغلی چې د «ساموس» په ټاپوزمه کې فیثاغورث نړۍ ته راغی.

هغه د اشراف [لوړه طبقه] طبقې پلوي و او له مریانو او هغوي سره چې د آزادۍ خبرې به یې کولې مبارزه کوله. له همدې امله د یونان خلکو له هغه څخه کرکه لرله. فیثاغورث په زوره غوښتل دا په خلکو ومني چې: «ای نیکو خلکو ددې اشرافو درناوی وکړئ! د هغوي فرمان ومنئ؛ له اشرافو څخه ستاسو فرمانبرداري یو طبیعي امر ده. په دې پوه شئ چې تر ټولو ښه حکومت د اشرافو حکومت ده! هغوي چې ډوډۍ او آزادي غواړي له مذهب سره مخالفت کوي. تاسو باید مذهب وغواړئ نه ډوډۍ.



انسان باید د خپلې خیټې په فکر کې نه وي. څاروي د خپلو خیټو په فکر کې دي. انسان باید یوازې د مذهب په فکر کې وي.»



ګرانو ځوانانو داسې یو کس هم پیدا نشو چې له ښاغلي فیثاغورث څخه وپوښتي:

«ښاغلی فیثاغورث! آیا بشر د مذهب لپاره رامنځته شوی که مذهب د بشر لپاره؟»

ښاغلي فیثاغورث هرومرو فکر کاوه چې له انسان څخه مخکې مذهب شتون درلود او د انسان د رامنځته کېدو موخه دا وه چې د مذهب په فکر کې اوسي او هغه وساتي. په ریښتیا هم چې دا څومره بابیزه خبره ده!

مونږ او تاسو ښه پوهېږو چې ښاغلي فیثاغورث ولې دا خبرې کولې. هغه ټول شیان د اشرافو لپاره غوښتل. آن مذهب یې هم د اشرافو د حکومت د ژوند او بردوالي لپاره غوښته.

له دې ټولو سربېره د فیثاغورث عقاید مادي ول. داسې فکر ونکړئ چې هغه ماتریالیست و! نه. هغه عیني ایډیالیست و. یعنې دا یې منله چې نړۍ خوب او خیال نده او واقیعت لري.

د فیثاغورث علمي ښوونې (تعلیمات):

ټول شیان له شمیرو څخه رامنځته شوي دي. ددې لپاره چې د نړۍ ټول شیان له شمیرو سره کار لري. که شمیرې نه وي، شیان به هم شتون ونه لري. البته که (یو) هم نه وي، نورې شمېرې به هم نه وي.



(ځوانانو ګورئ چې فیثاغورث د شیانو شتون منلو.)

فیثاغورث وایي: د شیانو په اړه زمونږ پوهه هغه وخت زیاتیږي چې شمېرې چې ټول شیان د هغو د شتون په پایله کې حقیقت ته رسیږي، وپیژنو.



شمېرې پر دوه ډلو ویشل کیږي:

طاق شمېرې،

جفت شمېرې،


دا دوه ډلې یو بل سره تضاد لري یعنې د یو بل ضد دي.

د یو شمېره چې



لومړنۍ شمیره ده او مخکې مو هم وویل چې ټول شیان شمېرو حقیقت ته رسولي، پر همدې بنسټ د یو شمېره لومړۍ مادي نړۍ ته راغلې ده (د فیثاغورث له لید څخه).

ځوانانو، د یو شمېره له یو طاق شمېرې سره یو ځای کړئ مثلا له پنځو سره یې جمع کړئ! شمېره چې لاس ته راځي، جفت ده.



۱+۵=۶

جفت = طاق + طاق

اوس یو له جفت شمېرې سره جمع کړئ؛

شمېره چې لاس ته راځي طاق ده.



۹ = ۸ + ۱

طاق = جفت + طاق

که له جفت سره يې جمع کړو طاق شمېرې او که له طاق شمېرو سره يې يوځای کړو جفت شمېرې لاسته ته راځي.

۵+۲=۷ ۳+۲=۵ ۵+۳=۸

۳+۳=۶ ۹+۲ =۱۱

طاق=جفت+طاق طاق=-جفت+طاق جفت=طاق+طاق جفت=طاق+طاق

طا ق = جفت + طا ق

هرومرو مو په ياد دي چې فيثاغورث وايي ټولې شمېرې له يو څخه رامنځته شوي؟

جفت شميره ۲ = ۱ + ۱

طاق شمېره ۳ = ۲ + ۱

نو يو، جفت شميره هم جوړوي او همداسې يو طاق شميره هم جوړوي.

پايله اخلو کله چې وايو درې شمېره، ښکاره ده چې دا شمېره طاق ده، او همداسې نور. د فيثاغورث له ليد څخه يواځې يو، دا ځانګړتيا لري چې شمېرې جفت او طاق کړي؛ له همدې کبله هم جفت ده او هم طاق. يعني په خپل ځان کې تضاد لري. ځکه يو هم خپله ده هم خپل ضد ده. روښانه ووايم: پوهېږو چې جفت او طاق د يو بل ضد دي؛ نو يو چې هم طاق ده او هم جفت، د خپل ځان ضد ده.

ګورو چې فيثاغورث د شيانو دننۍ تضاد مني، عقايدو يې لږ ديالکتيکي رنګ درلوده.

سقراط

سقراط ۴۶۹ کاله وړاندې له میلاد څخه دنیا ته راغلی و. هر چا به چې هغه ته ویل چې غواړم طبیعت وپېژنم، خپه کېده او ویل به یې: «آه...! د طبیعت له پېژندلو خبرې مه کوه چې حالت مې خرابېږي. ددې پر ځای چې طبیعت و پېژنې، ښه ده چې لاړ شې او ځان وپېژنې. هو ګرانه، لاړ شه ځان وپېژنه! خو کوښښ وکړه چې احساساتي نشې. دا زما لخوا د نصیحت په توګه ومنه، په خپل پرتوګ‌غاښ دې باور وکړه خو په پنځه‌ګونو حواسو دې باور مه کوه!»

یوه ورځ یوه زده‌کوونکي یې له سقراط څخه وپوښتل او سقراط چې هر څه سوچ وکړ وی نشوکولای د هغه پوښتنې ته ځواب ورکړي. زده‌کوونکي ته یې مخ واړوه او وویل: «زه ناپوهه سړی یم، ددې لپاره چې یوې پایلې ته ورسېږې له نورو زده‌کونکو سره خبرې اترې وکړه.»

همدا وو چې د سقراط زده‌کوونکو ویل: «ښاغلی سقراط یو اندازه په دیالکتیک پوهېږي.»

ګرانو ځوانانو بده به نه وي چې پوه شئ سقراط یې د ځوانانو د فکر خرابولو په جرم د زهرو جام په ښکلو محکوم کړ.



سقراط د زهرو جام په لاس کې واخیست او زده‌کوونکو ته یې وویل: «مړینه زما لویه هیله ده؛ ځکه په مرګ سره روح چې تل‌پاتې او جاویدان دی، له بدن څخه چې له منځه ځي جلا کېږي.»

افلاطون

افلاطـون د سـقراط لـه زده‌کوونکـو څخه یو و او د اشـرافي یا بډایـې طبقې کلک پلوی و. لـه هغې وروسـته چې سـقراط د زهـرو جـام وڅښـکه او ومړ، افلاطـون چې بډایـه کس و د نـړۍ پـه چکـر ووت. لـه دې چکـر څخـه د هغـه موخـه دا وه چې مالومـات لاس تـه راوړي او لنـډه دا چې کلـه یـې چې پـه خپـل آنـد مالومـات زیـات شـول، آتن تـه راسـتون شـو او ښـار څخـه بهـر یـې یـو بـڼ غـوره کـړ چې پـه هغه کې خپـل عقاید تبلیـغ کـړي.

د افلاطون له لید څخه دو نړۍ شتون لري:

۱ ــ ریښتیني نړۍ ،۲ ــ د سیورو نړۍ.

لومړنـۍ نـړۍ یعني ریښـتیني نړۍ: هغه نړۍ ده چې په ریښـتیا شـتون لـري او حقیقي ده. دا نړۍ یواځې د فکر په ځواک یا د عقل په واسـطه پېژندلی شـو. له همدې امله دې نړۍ تـه د معقولاتـو نـړۍ هـم وایي. د معقولاتو نـړۍ واقعي وي، تل‌پاتـې او جاویدانه ده یعنې لـه منځه نه ځي او بدلون هم نه کوي.



د سـیورو نـړۍ: هغـه نـړۍ چې پکې ژونـد کـوو، د سـیورو نړۍ ده او واقیعت نه لـري. دا نـړۍ هیـڅ حقیقت نـه لـري، ځکـه لنډمهاله او تیریدونکې ده او تـل د بدلـون پـه حـال کې ده او لـه



منځه ځي. دا نړۍ د واقعي نړۍ سیوری ده او که هغه نړۍ نه وي، دا نړۍ هم نشته. نو نشي کولای جلا او خپلواکه شتون ولري. ځکه وجود یې په واقعي نړۍ پورې تړلی ده. یعنې هرومرو باید واقعي نړۍ وي، چې د هغې سیوری هم شتون ولري. یوه ورځ افلاطون یوه ډله بیوزلو ته وینا کوله:

«له دې چې بیوزله یاستئ او هیڅ نه لرئ مه خواشیني کېږئ. دا نړۍ یوازې سیوری ده، هغه اشرافو او بډایانو ته پرېږدئ او خپله بلې نړۍ ته په تمه اوسئ چې تلپاتې او جاویدانه ده. دا پیسې او شتمني او ځمکه چې حقیقي نده په څه درد مو خوري؟ کله چې دا نړۍ چې له منځه تلونکې او د واقعي نړۍ سیوری ده، باید ددې نړۍ مال هم ایسته واچوو!»

افلاطون عقیده لرله چې روح هر چیرته ځي او تلپاتې او جاویدانه ده؛ کله چې انسان مري، روح یې له بدن څخه بهر کېږي او بل بدن ته ځي.

ارسطو

هغه یو عیني ایډیالیست و چې ۳۸۴ کاله مخکې له میلاد څخه په «استاګیرا» کې چې د «مقدوینه» یو ښار ده زیږیدلي و. په ۱۷ کلنۍ کې آتن ته ولاړ او یو کال وروسته د افلاطون له زده کوونکو څخه شو.

ارسطو سربیره پر دې چې ایډیالیست و، ځني وخت یې غوښتل د ماتریالیستانو په څیر خبرې وکړي خو له لږ ځنډ وروسته به بیرته ایډیالیزم ته لویده. له همدې امله به یې ویل: «ارسطو د ایډیالیزم او ماتریالیزم په منځ کې ده.»



د ارسطو ایډیالیزم د افلاطون له ایډیالیزم څخه پرمختللی و. ارسطو ۲۰ کاله د افلاطون زده کوونکی و او په لومړیو کې د افلاطون ایډیالیزم ډیره پلوي کوله خو وروسته چې ډیره زده کړه یې وکړه، د افلاطون عقاید ورته غیرمنطقي ښکاره شول.

که بې انصافي ونکړو، باید ووایو چې ارسطو د خپل وخت تر ټولو ستر فیلسوف و چې د علومو په وده کې ډېره مرسته وکړه. هغه په خپل یو کتاب کې چې «متافیزیک» نومېږي لیکي:

«طبیعت په واقعي ډول شتون لري او د اثبات لپاره یې هڅه خندنۍ ده. ځکه دا روښانه ده چې طبیعت واقعاً شتون لري.»

ګرانو ځوانانو، ګورو چې ارسطو ماتریالیزم ته ډېر کېږون «ګرایش» درلوده.

د ارسطو په عقیده، ټول شیان له مادې څخه رامنځته شوي دي، په همدې دلیل




ماده بې پایه ده. خو تر هغې چې ماده ځانته بڼه غوره نکړي، دا امکان شته چې په یو ځانګړي شي بدله شي.

هغه د روح په اړه لیکي: «روح او جسم، د تبر او د هغه تیره والی په څېر ده. که د تبر خوله تیره نه وي، تبر څخه ګټه نه اخیستل کېږي. که تبر نه وي تیره والی هم شتون نه لري. یعني که روح نه وي، ماده هم شتون نه لري.»

اسقف جرج برکلی

نـږدې درې سـوه کالـه وړانـدې پـه انګلسـتان کې نـړۍ ته راغی. هغـه د ماتریالیـزم تر ټولو کلـک دښـمن و او ویـل به یې: «په ریښـتیا هـم ملنډېـزه ده! هـر څـوک راپاڅېـږي او وایـي چې مـاده حقیقـت لـري. هـر څه یې چې پـه غـوږ کې وایـي ښـاغلیه دا نـړۍ او طبیعـت حقیقـت نـه لـري، مـاده پـه هیـڅ وجـه شـتون نـه لـري، دا ټـول انځورونـه او نقاشـي ده؛ بـاور نـه کـوي.»



ځوانانو که ومو ویل چې جرج برکلي څه ډول ایډیالیست و؟

آفرین! ذهني ایډیالیست.



یوه شـپه څو غله د ښـاغلي برکلی کور ته ورغلـل، برکلـي د حرکت او مـادې په اړه پـه لیکلـو بوخـت و. د غلـو مشـر مخکې شـو او پاڼه یې له برکلي واخیسـته او هغه یې ولوستله.

هغـه مهـال خوشـاله شـو او غلـو تـه یـې وویـل: «هلکانـو! پـه آرامـه سـره کـور تـش کـړئ؛ ځکـه دا بابـا هیـڅ حرکـت نه لـري. خپله یـې دلتـه لیکلـي چې پـه نـړۍ کـې هیـڅ حرکـت شـتون نه لـري او ټـول شـیان چـې زمونږ چاپیـره شـتون لـري، زمونـږ په ذهـن کې لـه انځورونو او نقاشـیو پرته بل څه نـه دي.» غلو په خوشـالۍ سره د کور سامان په راټولولو پیل وکـړ. ښاغلي برکلي چیغې کړې: «خیر ده



په ما رحم وکړئ، ما مه بیوزله کوئ!» د غلو رییس وویل:

«ای بابا! ستا لپاره خو ددې شیانو جوړول هیڅ خبره نده، کله چې مونږ دا شیان یوړل، دومره زور ووهه چې بیاځلې په خپل ذهن کې دا شیان نقاشي کړې.»

لنډه دا چې ښاغلی برکلی هغه شپه ډېر خواشیني شو او پریکړه یې وکړه چې سبا ته عیني ایډیالیست کېږي. او همداسې هم وشو. هغه په یو عیني ایډیالیست بدل شو. خو بیا هم له خپل خره راښکته نشو او ویل یې: «مونږ خپله نشو کولای شیان په خپل ذهن کې انځور کړو. یو روح شته چې شیان زمونږ په ذهن کې نقاشي کوي.»



ډیویډ هیوم



ډیوید ویل: «که ریښتیا ووایم زه خپله هم نه پوهیږم چې دا شیان حقیقت لري او که نه. ویریږم که ووایم چې حقیقت لري، دروغ نه وي ځکه درواغجن د خدای دښمن ده، او د همدې یوې خبرې له امله دوزخ ته لاړ شم. که ووایم چې دا شیان او هیڅ شی په واقعي بڼه شتون نه لري، ماتریالیستان به پر ما هم د ښاغلي برکلي په څیر ملنډې ووهي او و به وایي چې هیڅ مغز نه لري. له همدې امله وایم: پریږدئ بابا؛ دا شیان واقعیت لري. او شونې ده چې واقعیت هم ونه لري.»

ګورو چې ښاغلي هیوم د شیانو په اړه شک درلوده، نو ښه ده چې هغه ته ووایم ښاغلي شک کونکی.

په ورته وخت کې هیوم


د «اګنوستیسیزم» بنسټ ایښودونکي ده.



امانوئل کانت

کانت هم د ارسطو په څير سره له دې چې ايډياليست و، خبرو يې د ماترياليستۍ رنګ درلوده. هغه له لمر څخه د شمسي منظومې جلا کېدو نظريه رد کړه او خپله نوې نظريه وړاندې کړه: «شمسي منظومه له غازو، دوړو او غبار او ذرو څخه جوړه شوې غټې وريځ څخه رامنځته شوې ده.»

کانت باور درلوده چې د سپوږمۍ جاذبه ددې لامل کېږي چې د سيندونو اوبه پورته راشي او کله چې بيرته لاندې ځي، دا دوه حرکتونه د ځمکې د څرخېدو د کمېدو لامل کېږي.





کانت دا مني چې شیان په واقعي بڼه او جلا شتون لري او له دې نظره یو ماتریالیستي لید لري. خو کله چې وایي زمان او مکان حقیقت نه لري او هغه زمونږ په ذهن کې جوړېږي، یو ایډیالیستي لید پیدا کوي.

فیشته

فیشته هم د ټولو ذهني ایډیالیستانو په څیر په کلکه یې ماده ردوله او له ماتریالیستانو سره په سخته جګړه کې و. هغه څني وخت یواځې به یې له کانت سره لانجه کوله او ویل به یې: «ای کانته! ای کانته! نه شرمیدې چې له ذهن څخه بهر دې د مادې شتون ومنلو؟ تا ته څه ووایم؟ ماتریالیست که ایډیالیست؟ که ایډیالیست یې، نو ولې علم پسې لاړې او له دې هم ورهاخوا، ولې دې په خپله هغه کرغیړنه نظریه چې وایي شمسي منظومه له وریځ څخه رامنځته شوې، له علم سره لویه مرسته وکړه او له بې‌پلاره ماتریالیستانو چې په علم سره یې زمونږ بیخ بنیاد راکاږلی ده، زمونږ ستونزه زیاته کړه؟ که ماتریالیست یې ښکاره او رغنده ووایه چې زه ماتریالیست یم.

آه ...! تاته څه ووایم؟ خو بیا هم چې د ایډیالیزم بوی درڅخه راځی نو لږ درناوی دې کوم او رد او بد درته نه وایم.»

شلینګ

د آلمان اوسېدونکی او عیني ایډیالیست و. هغه ډېره هڅه وکړه چې د فیشته ذهني ایډیالیزم په خپل عیني ایډیالیزم سره بشپړ کړي. هغه هم د فیشته په څیر د طبیعت له لوستلو یره نه لرله. په ټوله کې شلینګ هم په خپلو عقایدو کلک ولاړ نه و. هر ورځ یو شي پسې تلو. یوه ورځ ذهني ایډیالیست کیده؛ بله ورځ د ډېر لوست په پایله کې عیني ایډیالیست کیده. بیا بله ورځ به یې داسې څه ویل چې د متافیزیک بوی به ترینه راتلو او هر څه به یې چې لیدل ویل به یې: «دا هماغه شی نده؟»

هر څه به دې چې ورته ویل: «نه ښاغلیه، دا هماغه شی نده.»

ویل به یې: «ولا په بلا چې هماغه شی ده.»

هګل

په ۱۷۷۰ زیږدیز کال کې په آلمان کې دنیا ته راغی. هغه یو لوی فیلسوف و او عقیده یې لرله چې روح له مادې وړاندې رامنځته شوی او ټول شیان یې پیدا کړي دي. د هګل له دې عقیدې څخه هغه ټول چې د علم او پرمختګ مخالف ول، خوشاله شول او خوند یې اخیستو.



همدا چې هګل د دیالکتیک درې قانونه کشف کړل، هغوی چې د علم ضد ول، تندي یې تروش شول.

د ديالکتيک دري قانونه



۱) د ضدونو د يووالي او مبارزې قانون:

ځوانانو، هرومرو ټول پوهيږئ چې ټول شيان او پديدې تضاد لري. يعنې په خپل وجود کې ضد شيان هم لري. که په دې پوهيږئ نو لاړ به شو او و به ګورو چې د ضدونو يووالى او مبارزه يعنې څه.

يو پانګوال او يو کارګر په پام کې ونيسئ. اوس يوه پوښتنه کوم: که پانګوال نه واى آيا کارګر به شتون لرلى؟ ښکاره ده چې نه. له کارګر پرته هم پانګوال شتون نه لري. پايله اخلو چې پانګوال او کارګر سره له دې چې يو بل سره ضد او مخالف دي، له يو پرته بل هم شتون نه لري. پر همدې بنسټ په پانګوالۍ نظام کې، پانګوال او کارګر چې د يو بل ضد دي، يووالى هم لري.

اړينه ده چې لږ يې روښانه کړم دا چې کله وايو کارګر او پانګوال يو بل سره يووالى لري، موخه دا ده چې کارګر او پانګوال په پانګوالۍ نظام کې يو بل سره يووالى لري. په سوسياليزم (د کمونيزم په لومړي پړاو) کې به پانګوال او کارګر يووالى ونه لري.

۲) له کمي بدلون څخه کيفي بدلون ته د تګ قانون:

د اوبو يو لوښى د يخچال په يخخونه کې کيږدئ. که هره شيبه د يخخونې دروازه پرانيزئ او يو پياله اوبه راواخلئ، ګورئ چې اوبو کې هيڅ بدلون نده راغلى او هماغه مايع

حالت لري. خو له اوړد ځنډ وروسته، ګوري چې اوبه په يخ بدلې شوې دي او خپل حالت يې له لاسه ورکړی ده. يعنې له مايع څخه په جامد بدلې شوې دي. همدا راز که لږ اوبو ته په يو لوښي کې حرارت ورکړئ، که شيبه په شيبه ورته وګورئ، اوبه هيڅ بدلون نه کوي. خو که له اوږد ځنډ وروسته ورته وګورئ، اوبه به ايشيدلی وي او په بخار بدليږي. يعنې اوبو خپل حالت له لاسه ورکړی له مايع څخه په غاز بدليږي.

کله چې اوبه د يخ وهلو يا بخار کيدو په حال کې دي، تل د بدلون په حال کې وي. خو په لومړيو کې مو دې بدلون ته پام نه کيږي. يعنې له هماغې شيبې چې اوبه په يخخونه کې ايښودل کيږي او تر هغې چې يخ يې وهي او يا له هاغې شيبې چې اوبو ته حرارت ورکول کيږي او تر هغې چې خوټيږي او غواړي په بخار بدلې شي، پرلپسې بدلون کوي په داسې حال کې چې هغه بدلون نشو ليدلی. خو همدا چې اوبه په يخ يا بخار بدلې شي، مونږ يې بدلون وينو.

کمي بدلون: کراره کراره ده او په تدريج سره تر سره کيږي؛ په داسې حال کې نشو کولای دا بدلون ووينو او هغه ته مو پام نه کيږي. په کمي بدلون کې هغه څه چې د بدلون په حال کې دي، خپل حالت له لاسه نه ورکوي. مثلا د اوبو بدلون له هماغه وخت څخه چې په يخخونه کې ايښودل کيږي او تر هغې چې يخ نيسي، کمي بدلون ده او په سترګو نه ليدل کيږي. يعني په هماغه مايع بڼه وي.

کيفي بدلون: دا بدلون ناڅاپي او په بيړه ترسره کيږي، داسې چې هغه کتلی شو. په کيفي بدلون کې هغه څه چې د بدلون په حال کې وي، تل د بدلون په حال کې وي، خپل حالت له لاسه ورکوي او بل حالت ته ځي. لکه اوبه چې ناڅاپي له مايع حالت څخه په غاز (بخار) او يا جامد (يخ) حالت بدليږي.

پايله اخلو: هر څه چې د بدلون په حال دي، لومړی کمي بدلون کوي او په پايله کې کمي بدلون په کيفي بدلون اوړي.

لـه پورتـه مطلـب څخـه پـه ګټې اخيسـتو ليکـو: ټـول شـيان او پديـدې د بدلون په حـال کې دي او ټـول شـيان او پديـدې چـې خپـل کمـي بدلـون يې تير کـړی وي او کيفـي بدلون پکې راڅرګنـد شـوی وي، تکامـل کـوي، يا په بلـه وينا:

تکامل له کمي بدلون څخه کيفي بدلون ته د تګ پايله ده.

۳) د نفی نفی قانون:

هـګل دا قانـون لـه ايډياليسـتي ليد څخه بيان کـړ. او عقيده يې لرله هغه څه چې ددې لامل کيږي يو نوی شـی د زوړ شـي ځای ونيسـي، د روح او قوي فکر تکامل ده.

خو دا قانون وروسـته مارکس داسې اصلاح کړ: د شـيانو او پديديو دننني تضاد ددې لامل کيـږي چـې هغـوي تـل د حرکت او بدلون په حال کې وي. دا حرکت هم د شـيانو او پديدو د تکامـل سـبب کيـږي. او پـه همـدې توګـه تـل يو نوی شـی راځـي او د زوړ ځای نيسـي. په داسې حال کې چې نوی د زوړ ښـه شـيان له ځان سـره سـاتي او بد شـيان يې ايسـته اچوي. پـه ټولـه کې کـه نوی رانشـي او زوړ رد يا نفی نکړي، تکامـل هم نه کيږي.

مثلا مريتـوب چې نوی ده، لومړی کمون چې زوړ ده، رد (نفی) کـوي؛ فيوډاليزم (نوی)، مريتـوب (زوړ) رد (نفـی) کـوي؛ پانګوالـي (نـوی)، فيوډاليـزم (زوړ) رد (نفـی) کـوي؛ کمونيـزم (د کمونيـزم لومـړی پړاو يعنی سوسـياليزم) راځـي او پانګوالي رد (نفـی) کوي.

ګورو چې ټولنه څرنګه د نـوي پـه راتـګ او د زوړ پـه تګ سـره تکامل کـوي او لـه لومړي کمون څخه کمونيزم ته رسيږي.

پـر همـدې بنسـټ پايله اخلو چې نفی څرنګه چې هګل باور درلـوده، د روح او فکر تکامل نده، بلکه د شـيانو او پديدو دننني تکامل ده.


د ماترياليزم تاريخ



طالس:

و نه و، زما او ستا پرته ډير شيان ول. په پخوا زمانو کې، د يونان په يو بندرکې، يو فيلسوف ژوند کاوه چې نوم يې طالس و. هر کله به چې هوا توده شوه هغه به سيند ته تلو او لمبل به يې.

طالس ليدل چې په اوبو کې زياتې ژوې ژوند کوي. کب، پنجل‌پاو، کيشپ، اوبو مار او ډيرې نورې ژوې.



هغه هر ورځ په دې اړه فکر کاوه چې

ولې کله چې کب له اوبو راوباسې مري؟



ولې کله چې د څښاک لپاره اوبه نه وي،

مونږ له تندې مرو؟

ولې میوې اوبه لري؟

ولې واښه

چې څاروي یې خوري،

نم لري؟





ښه نو اوس پورته پوښتنو ته په کتو کولای شو ووایو: «نړۍ له یوې مادې څخه جوړه شوې چې د نړۍ او ژوند سرچینه ده. هغه ماده اوبه دي. هو، ټول شیان له اوبو څخه رامنځته شوي دي. پر همدې بنسټ، اوبه لومړنۍ ماده ده؛ ځکه یو خو څیره او بڼه نه لري. یعنې هم مایع ده، هم بخار (غاز) او هم جامد (یخ).








دویم: په هر څه کې چې ګورو په یو ډول اوبه لري.





دریم: تل د حرکت په حال کې دي.

یوه ورځ همداسې ښاغلی طالس د سیند په غاړه ولاړ و او شاوخوا یې کتل، وی لیدل چې یو ټوټه لرګی د اوبو پر مخ پروت ده. لرګی د اوبو له حرکت سره ښکته او پورته

تلـو. یوځـل د طالـس پـه څیره کې خوښـي را څرګنـده شـوه او چیغې کړې:

«اوس پـوه شـوم! ځمکه هـم د لرګـي پـه څیـر د اوبـو پـر مـخ لامبـو وهـي. کلـه چې زلزله کېږي، د اوبـو یـو ډول حرکـت ده چې ځمکـه خـوروي. بالـکل هماغسې چې دا لرګـی خـوروي. خـو اوبـه هغـه وخـت ځکمـه خورولـی شـي چې حرکت یـې زیـات وي.





آناکسیماندر:

آناکسیماندر د طالس زده‌کونکی و او ۶۱۰ کاله مخکې لـه میلا څخه نـږې تـه راغلی و. یـوه ورځ یـې طالـس تـه وویـل: «کـه اوبه، لومړی مـاده وي او نـږې لـه هغې څخه رامنځته شـوی وي، نـو ولـې وچـه لـري؟

همـدا ډول اوبـه د اور ضـد دي، کلـه چې ټـول شـيان لـه اوبـو څخه جـوړ شـوي وي، ولی اور شـتون لري؟

پر همدې بنسـټ نړۍ له اوبو څخه نده جوړه شـوی او لومړی ماده یعنې داسې شی چې ټـول شـيان ترینـه جـوړ شـوي وي، یوه مـاده ده چې جنس یـې معلوم نده او پېژندل شـوې هـم نـده. ددغې ناپېژندل شـوې مادې نـوم چې ټول شـيان ترینه رامنځته شـوي «آپیرون» ږدو. آپیـرون هیـڅ پیـل نـه لري او تـل وه. دا لومړی مـاده، د یو ګردوهلې ټوټې په څير وه او په کراره کراره له هغې څخه آسـمان او سـتوري او سـیارې او نور شـيان رامنځته شـول. ددې ترخنـګ اوبـه او نـم هـم رامنځتـه شـو چې د لمـر د حـرارت پـه وسـیله په بخـار بدل شـول. پـه ورتـه وخـت کې لومړنـي ژوندي موجـودات هم د کبانو پـه بڼه ول.»



آناکسي‌من:

آناکسيمن د طالس يو زده‌کوونکی و، هغه اوبه او آپيرون د لومړی مادې په توګه رد کړل او وايي: «لومړنی ماده هوا ده. ځکه بې‌پايه ده. هوا د راټولېدو او پرانيستلو په حال کې ده او د همدغه راټولېدو (انقباض) او پرانيستلو (انبساط) له امله ټول ژوندي موجودات رامنځته کېږي. کله چې هوا راټولېږي، شمال او وريځ او خاوره او تيږې رامنځته کېږي او کله چې پرانيستل کېږي اور رامنځته کېږي.

له هاغه ځايه چې هوا تل د انقباض او انبساط په حال کې ده، د نړۍ ټول شيان پرلپسې د بدلون په حال کې دي او له يو حالت څخه بل حالت ته اوړي.




هراکليت:

هراکليت يوناني فيلسوف وايي: «دا چې ټول شيان د حرکت او بدلون په حال کې دي، نو ټول شيان هم شتون لري او هم شتون نه لري. يعني يو شی رامنځته کېږي او يو شی له منځه ځي.

نړۍ هيڅ خدای نه ده پيدا کړې او اور، د نړۍ لومړنی ماده ده او ټول شيان له اور څخه رامنځته شوي دي. اور تل و او وي به. تل ځليدونکی او تلپاتی ده او د حرکت اصلي لامل ده.

نړۍ دوه ډوله حرکت لري: يو مخ پر ښکته (ريونده) او بل پورته (مخ پر لوړه). اور د ښکته راتګ په وخت کې لومړی په هوا، بيا په اوبو او خاوره بدلېږي. د پورته تګ په




حال کې په خاوره په اوبو، اوبه په هوا او هوا په اور بدلېږي.

د مادي حرکت يو جبري شی ده؛ يعنې د چا په واک کې نده. نشو کولای هغه رامنځته کړو او نه د هغه مخه نيولی شو.

هر څه چې د حرکت او بدلون په حال کې وي، په خپل ضد بدلېږي. مثلا ځوان په خپل ضد يعنې زوړ بدلېږي.

ټول شيان نسبي دي. مثلا ښه والی او بدوالی يو دي. ځکه هغه څه چې زما په ليد ښه دي، کيدای شي د بل چا له ليده بد وي.


خو د روح په اړه بايد ووايم چې روح له اور او اوبو څخه رامنځته شوی ده. د هغه روح اور چې زيات وي (وچ روح) پوه ده؛ خو د هغه روح اوبه چې ډيرې وي (لوند روح) ناپوهه او بيکاره ده. خو که د روح اوبه دومره زياتې وي چې اور مړ کړي، مرګ هم د ژوند ځای نيسي. يعنې ژوند په مرګ بدلېږي.»



آناکساغوراس:

کله چې ځوان و له څېړنو او لوست سره یې خورا زیاته مینه لرله. او کله چې رالوی شو، ګڼې وړې خبرې یې کولې. مثلا ویل به یې: «ټول شیان تل له خپل ځان سره برابر دي.»

د آتن روحانیانو آناکساغوراس له ستوني ونیوه او وویل: «هله ژر شه ووایه چې له دې خبرو دې موخه څه ده؟» او دومره یې پرې زور راوسته چې بناغلي فیلسوف وویل: «موخه مې دا وه چې ماده هیڅ وخت له غیر مادي څخه نه رامنځته کیږي.»



د آتن روحانیان په غوسه شول او چیغې کړې: «هی ستا داسې داسې! یعنې غواړې ووایې چې خدای شتون نه لري؟ کله مو چې له دې ځایه وشړلې بیا پوهېږې چې خدای شته او که نه.»

او هغه مهال یې آناکساغوراس وشړلو.

آناکساغوراس عقیده لرله: «د نړۍ ټول شیان له کوچنیو ذرو څخه جوړ شوي چې هیڅکله له منځه نه ځي. د «نوئوس» په نوم ماده پر دغو کوچنیو ذرو اغیز کوي او هغه په حرکت راولي. د همدې حرکت له امله هر یو شی یوه ځانګړې بڼه غوره کوي.»

آناکساغوراس وایي: «نړۍ په پیل کې ګډه وډه وه. خو یو ستر عقل (خدای) دا ګډوډي له منځه یوړه.»

د آناکساغوراس له لیده، ستر عقل (خدای)، یو روح ده چې له مادې څخه جوړ شوی او د هغه لومړنی حرکت د موجوداتو د رامنځته کیدو سبب ګرځي.


آناکساغوراس عقیده لرله چې ژوندي موجودات له خاورو رامنځته شوي دي.

امپیدکلس:

امپیدکلس وایي: «ملګرتیا او دښمني دوه متضاد شیان دي چې پر نړۍ واکمن دي. د شته شیانو له منځته تګ او د نوی شیانو رامنځته کیدل له ملګرتیا او دښمنۍ سره تړاو لري. هرکله چې ملګرتیا دښمني ته ماتې ورکړي، ناآرمي او اندیښنه له منځه ځي. او هر کله چې دښمني، ملګرتیا ته ماتی ورکړي، بیلتون او اندیښنه رامنځته کیږي.»

د امپیدکلس له لیده ټول شیان له خاورو او اوبو او باد او اور څخه رامنځته شوي دي.

امپید کلس تکامل منلو او ویل یې: «په پیل کې د بدن هر غړی په جلا ډول له خاورو څخه جوړیږي. دا جلا غړي عبارت ول له:



سر، لاس، پښې، سترګې،
غوږ، پوزه، ژبه او نور.





وروسته دا غړي ګډوډ یو بل
سره نښلي او عجیبه څاروي
ترینه جوړیږي.

دا غړي سمیږي او طبیعي
ژوي راپیدا کیږي.








ددې موجوداتو له تکامل
څخه، انسان رامنځته کیږي.»

دموکريت:



په پخوانيو زمانو کې د يونان
په «آبدر» ښار کې، د مريانو يو
سوداګر ژوند کاوه او يو ځوی
يې درلوده چې نوم يې دموکريت
و او د نړۍ ليدلو سره يې مينه
لرله. ښکاره ده له هاغه ځايه چې
د پلار اقتصاد يې
ښه و، نو دا هيله
يې نيمګړې پاتې
نشوه.



له همدې کبله
ډير زيات سفرونه
يې وکړل او په
دې سفرونو کې له ډيرو پوهانو او فيلسوفانو سره بلد شو.

هغه لومړنی کس و چې اتم يې لومړنۍ ماده وبلله او وويل:

«اور او روح د بيلابيلو اتومونو له بې شميره جوړښت څخه چې کروي دي، رامنځته کيږي.»

د دموکريت له ليد څخه ټول شيان د اتومونو له يوځای کيدو څخه رامنځته شوي دي او دا شيان هغه وخت بدلون کوي چې د هغوي اتومونو بدلون وکړي. دموکريت فکر کاوه چې ځمکه هواره ده.

اپیکور:

په پخوا زمانو کې یو بیوزله زده‌کوونکي ژوند کاوه چې ځوی یې اپیکور و. مور یې جادوګره وه. اپیکور عقیده لرله چې اتمونه تلپاتې دي او هیڅکله له منځه نه ځي.

د اپیکور له لیده د کلکو شیانو اتمونه منحني او پیچلي دي او د مایعاتو او غازاتو اتمونه، پاک او هوار دي.

د اپیکور په وخت کې یو ایډیالیست هم ژوند کاوه چې نوم یې «الکساندر» و. هغه چټي او د درواغو کیسې ډیري خوښولې او له طبیعت څخه یې کرکه لرله. له همدې کبله د اپیکور چې د لوست او طبیعت سره یې مینه لرله، ضد و. الکساندر ویل: «باید اپیکور ووژل شي!»

هغه آن د اپیکور یو کتاب هم وسوځاوه. د هغه پاتې کتابونه هم مالوم ندي چې څرنګه له منځه ولاړل.

نیکولوس کوپرنیک:


کوپرنیک په دې وپوهیده چې ځمکه ګرده ده او په ۲۴ ساعتونو کې یو ځل په خپل شاوخوا او په یو کال کې د لمر چې د نړۍ مرکز ده، شاوخوا څرخیږي. کوپرنیک لمر د نړۍ مرکز ګڼلو او د هغو کسانو نظریه چې ویل به یې ځمکه د دنیا مرکز ده، رد کړه.

کوپرنیک ویل: «ټولې سیارې د ځمکې په څیر د لمر شاخوا څرخیږي.»

هغه فکر کاوه چې ستوري روښانه ټکي دي چې ثابت او بې حرکته دي.

جیوردانو برونو:

هغه ویل: «څرنګه چې کوپرنیک ویلي و ځمکه په ۲۴ ساعتونو کې یو ځل خپل شاوخوا او په یو کال کې د لمر شاوخوا څرخیږي. سربیره پر دې، دا آسمان سر او پای نه لري او په هغه کې بې‌شمېره ستوري





لکه د لمر په شان او بې‌شمېره سیارې لکه د ځمکې په څېر شتون لري. ماده د بې‌پایه حرکت لرونکی ده او دا حرکت ددې لامل شوی چې بیلابیل شیان پیدا شي.

نړۍ د هوا، اور، اوبو، خاورو او «اتر» څخه جوړه شوی. (د هغه له لیده اتر یعنې اوبلن بخار چې د ځمکې شاته راټول شوی ده)

که جسم نه وي، روح هم شتون نه لري. پر همدې بنسټ روح او جسم یووالی لري.»

ایډیالیستانو چې ولیدل، برونو یو مبارز او کلک ماتریالیست ده هغه یې ونیوه او بندي یې کړ. کلونه وروسته یې هغه له بنده را بهر او په اور کې وسوځاوه.

کپلــــر:



د کوپرنیک په پلوي یې د هغه لارې ته دوام ورکړ سربېره پردې چې د هغه نیمګړتیاوې یې سمې کړې، هغه یې پوره هم کړې.


د کپلر د څېړنو او لوستنو پایلو لنډیز په درې قانونونو کې لیکل کیږي:

د کپلر لومړی قانون: د مریخ او نورو ټولو سیارو حرکت دایروی نه ده، بلکه بیضوي ده. یعنې هغه مدار چې ځمکه او نورې سیارې په هغه کې د لمر شاوخوا څرخیږي، بیضوي ده او لمر هم له همدې بیضوي مرکزونو څخه په یو کې ده.

د کپلر دویم قانون: کله چې سیاره لمر ته نږدې وي، تیزوالی یې له هغه مهاله چې له لمر څخه لرې وي، ډیریږي. یعنې د سیارو سرعت په مدار کې یو شان نده.

د کپلر دریم قانون: عطارد په ۸۸ ورځو کې او ځمکه په ۳۶۵ ورځو د لمر شاوخوا څرخیږي.





ګالیله‌ئو ګالیه ئی:

ګرانو بايد درته ووايم يو چشمې جوړوونکی و يوه ورځ يې هسې يوه ښيښه سترګې ته او بله لېږ ليری ونيوله او وی ليدل چې شاوخوا شيان ورته غټ ښکاري.

ښاغلی ګاليله له دې خبرې خبر شو او ولاړ چې پر علت يې ځان پوه کړي.

وروسته يې خپله يو دوربين جوړ کړ چې ټول شيان يې ډير غټ خو سرچپه ښودل. بيا څه موده وروسته يې بل دوربين جوړ کړ چې هر څه به يې زر ځلې غټ ښودل؛ خو سرچپه نه.

يوه ورځ يې دوربين سپوږمۍ خواته واچوه او وويل: «هغه ځای هم لکه ځمکه ده او غرونه او درې لري. يعني شونی ده چې سپوږمۍ هم غرونه ولري؟ پريږده چې په دوربين کې لمر ووينم. اوهو، دا خو ټول اور ده، خو تور داغونه پکې ښکاري. بيچاره! خپله يې ټول ځای روښانه کړی خو دغو بې‌پلاره او بې‌موره داغونو هغه تياره کړی ده.»





ګالیله په دوربین کې د شیدولارې خواته وکتل:

«وای وای وای! وګورئ چې څومره ستوري! په میلیونونو ستوري دلته ول او مونږ خبر نه وو؟

لږ دا دوربین دې خواته راوګرځوم، ډیر ښه، اوس مشتري وینم. ای شوخ مشتري! ته خو درې سپوږمۍ لرې او مونږ خبر نه وو؟ دا ولې ځمکه یوه سپوږمۍ لري او مشتري درې؟ دا بې‌انصافي ده!»



ځوانانو دا خبره دې مونږ سره وي، که ګالیله لږ غور کړی وای او ځواکمن دوربین یې جوړ کړی وای نو لیدلی به یې وای چې مشتری درې نه، بلکه ۱۲ سپوږمۍ لري، نو هغه وخت به څومره په غوسه شوی وای.

فرانسیس بیکن:

هغه باور درلوده چې هیڅ شی باید له دلیل پرته ونه منو. همدا راز هیڅ شی باید له دلیل پرته رد هم نشي.

بیکن یو انګلیسي ماتریالیست او مبارز و چې د دموکریت له اتمي نظرې څخه یې ملاتړ وکړ.

توماس هابس:

هابس یو انګلیسي ماتریالیست و چې نړۍ یې ماشیني ګڼله. هابس باور دلوده چې نړۍ له داسې جسمونو جوړه شوې چې هر یو په جلا ډول خپل کار کوي. په ټوله کې هغه یو میکانیکي ماتریالیست و.

د ټولنې په اړه د هابس نظر دا و چې ټولنه یواځې د آرمتیا لپاره، دولت رامنځته کوي؛ ځکه هغه ټولنه چې دولت ونه لري انسانان د یو بل لپاره لیوان جوړیږي.

رنه دکارت:

دیکارت باور درلوده چې طبیعت د مادي ذرو یوه ټولګه ده؛ دا ذرې له مادې څخه جوړې شوي دي.

د دکارت له لید څخه نړۍ یو ماشین وه. هغه هم مادي عناصر منل او هم روحاني عناصر؛ له همدې امله هغه ته یې دوه ګونی ویلې.

دکارت باور درلوده چې باید په خپلو حواسو باور ونکړو.

باروخ اسپینوزا:

هغه د دکارت خلاف یواځې مادي نړۍ منله او ویل یې:

«طبیعت خپله، خپل ځان رامنځته کړی ده.»

هغه د هالنډ اوسیدونکی و او ماده یې تلپاتې او تضاد لرونکې ګڼله.

جان لاک:

جان لاک، انګلیسي ماتریالیست وایي: «کله چې مونږ خپل شاوخوا شیان په خپلو حسي غړو (غوږونو، سترګو، پوزه، ژبه، لاس) درک کوو، د هغوي په اړه فکر کوو. هغه فکر چې زمونږ د حواسو په مرسته رامنځته کیږي، حسي فکرونه نوم لري. حسي فکرونه ددې سبب ګرځي چې مونږ د شیانو کیفیت وپېژنو. د جان لاک په نظر کیفیت په دوه ډلو ویشل کیږي.

لومړی ډله یا لومړنی کیفیت، هغه کیفیتونه دي چې نشو کولای هغه له مادې څخه جلا کړو؛ لکه حرکت.

(ګرانو ځوانانو هرومرو به مو په یاد وي چې ویلی مو وو ماده او حرکت پیل او پای نه لري او له یو بل پرته شتون نه لري. او ماده او حرکت نشو کولای له یو بل څخه جلا کړو.)

دویمه ډله، دویم کیفیتونه هغه کیفیتونه دي چې کولای شو هغه له منځه یوسو یا بدلون ورکړو او له مادې څخه یې جلا کړو. لکه: د یو جسم رنګ چې کولای شو هغه ته بدلون ورکړ یا بوی چې له مادې څخه راپورته کیږي یعنې له مادې څخه جلا کیږي.»



دنی دیدرو:

دیدرو فرانسوي ماتریالیست باور درلوده نړۍ له مادي څخه جوړه شوی ده او تل د حرکت او تکامل په حال کې ده. هغه ویل: «کولای شو نړۍ وپېژنو.»



پل هولباخ:

هولباخ ویل: «مادي تل شتون درلوده او هیڅ شي هغه نده رامنځته کړې او په جلا ډول زمونږ له ذهن څخه بهر شتون لري او په زمان او مکان کې هم بې‌پایه ده. ماده تل د حرکت په حال کې ده او نشو کولای حرکت له مادې څخه جلا کړو.»

هلوسیوس:

هغه هم باور درلوده چې نړۍ له مادې څخه جوړه شوې ده او تل د حرکت په حال کې ده. د هلوسیوس له لید څخه احساسات زیات ارزښت لري او یواځې د هغې په مرسته کولای شو پوهه ترلاسه کړو. هغه ویل: «ټول یو شان استعداد لري او یواځې د چاپیریال او پوهې شرایط د فکر په وده اغیز لري.»

لودویک فویرباخ:



له مارکس څخه وړاندې فویرباخ تر ټولو ستر ماتریالیست و. هغه ماتریالیزم رامنځته او ژوندی کړ.

فویــر باخ د هګل ایډیالیزم په سختۍ وځپلو او وویل:

«پـه هیـڅ وجـه روح نشـي کـولای مـاده رامنځتـه کـړي. دا مـاده ده چې روح یـې رامنځته کـړی ده.»

هغه ماده پر روح غوره وګڼله.

کـه څـه هـم یـې د هګل د دیالکتیک درې قانونه لـه «روح پر مادې غوره ده» سـره یو ځای لـري وغورځـاوه، غټـه تیروتنـه یـې وکـړه. هغه د پېژندې (شـناخت) تر لاسـه کولـو لپاره دوه پړاوه وښـودل.

یعني ۱ ــ حسي شناخت (د حواسو په مرسته)،

او ۲ ــ منطقي شناخت (د فکر په مرسته).


په دې توګه هغه وښودل چې د ایډیالیزم کلک مخالف ده.



کارل مارکس

مارکس په ۱۸۱۸ کال کې دنیا ته راغی.

هغه د پانګوالو لپاره غټ سرخوږی و او ټولو ترینه ویره لرله. مارکس د متافیزیک پانه په اوبو لاهو کړه او د متافیزیک خلاف یې وویل: «ټول شیان او پدیدې له یو بل سره



اړیکه لري.»

په دې توګه د پانګوالو او ایډیالیستانو رنګ والوت. اوس ولې؟ نو غوږ شئ.

متافیزیک ویلې: «هیڅ شی یو بل سره اړیکه نلري. مثلا ټټو، ټټو ده. کتاب، کتاب ده. هنر، هنر ده. فلسفه، فلسفه ده. سیاست، سیاست ده. دا هر یو په جلا ډول شتون لري او یو بل سره هیڅ اړیکه نه لري، فلسفه له سیاست سره اړیکه نه لري او یا هنر له فلسفې او سیاست سره اړیکه نه لري.


تیږه له خاورې سره اړیکه نه لري.»

خو مارکس وویل: «ټول شیان او پدیدې یو بل سره اړیکه لري.»




او پر همدې بنسټ، هغه فلسفه له سیاست سره په اړیکه کې کړه او د انسانانو په چوپړ کې کړه او هغه یې د زیارکښې طبقې د ژغورلو وسیله وګرځوله.

مارکس د فویرباخ له ماتریالیزم او د هګل له دیالکتیک څخه، دیالکتیک ماتریالیزم



رامنځته کړ. او داسې ابتکار يې وکړ چې تر هغه مهال د هيڅ فيلسوف فکر ورته نه و شوی. او په دې توګه يې انسانيت ته ستر خدمت وکړ. هغه د کارګرانو کلک ملاتړی او د پانګوالو نه پخلا کيدونکی دښمن و. له همدې امله، نن هم چې هر څوک د مارکس نوم اخلي، د پانګوالو ويښته ودرېږي.

پانګوال د مارکس له پلويانو سره کلکه مبارزه کوي. په واقيعت کې د مارکس د پلويانو



مبارزه چې د زيارکښانو، په ځانګړې توګه د کارګرانو ريښتيني پلويان دي، له پانګوالو سره يوه نه پخلا کيدونکې مبارزه ده او په پای کې دا مبارزه د کارګرانو په مشرۍ د يو سوسياليستي انقلاب بڼه غوره کوي او پانګوال له منځه وړي.

هيره دې نه وي د مارکس ديالکتيک د هګل له ديالکتيک سره ځمکه او آسمان توپير



لـري. د هګل ديالکتيـک ايډياليستي بڼه لـري او مارکس هغـه اصلاح کړ او هغـه ته يې ماترياليستي بڼه ورکـړه. هغـه ديالکتيـک د يـوې وسـلې پـه توګـه د کارګرانـو پـه لاس کې ورکـړ چې د پانګوالـو پـر وړاندې مبـارزه وکړي.



ديالکتيک ماترياليزم

هغـه ديالکتيـک پـه ټولنې کې پـه پلې کولـو سـره، تاريخي ماترياليزم رامنځته کړ. تاريخي ماترياليـزم انسـانانو ته ورزده کـوي چې څرنګه نړۍ ته بدلـون ورکړي.

هـو ګرانـو ځوانانـو، لـه مارکس څخـه وړانـدې ټولـو فيلسـوفانو يـوازې نـړۍ تعريـف او تفسـيروله خـو ومـو ليـدل چې مارکـس سـربيره پـر دې چې نـړۍ يـې پـه علمي ليد سـره وکتلـه، د هغې د بدلولـو لاره يـې هـم وښـودله.

انتشارات محسن
Mohsin Publications